

# آواز

RTA

از انتشارات رادیو تلویزیون ملی افغانستان

- سرلیک ...
- حرفهٔ خبرنگاری ...
- د سینما د هنر [illegible] ...
- اهمیت طراحی ودیزاین ...
- کتاب اوفرهنگ ...
- صحبت اختصاصی با وحیدقاسمی ...
- تأثیرگذاری نقدبرروال سینمای افغانی ...
- ستدیوهای تلویزیون ...
- ژونالیزم ...
- شناسایی کارمندان موفق ...

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیئت رهبری رادیو تلویزیون ملی افغانستان ومدیریت مجله آواز گزینش جلالتمآب داکترسید مخدوم رهین رابه حیث وزیز اطلاعات وفرهنگ کشور تبریک گفته خواستار بهروزی وکامگاری شان درعرصهٔ پیشبرد وظایف هستند.

(c) ketabton.com: The Digital Library




بسمه تعالی


صاحب امتیاز : رادیو تلویزیون ملی

تحت نظـــر : داکتر عبدالواحد نظری ، جاوید فرهاد و شمـس راد

مدیرمسؤول: لمیه احمدزی

تایپ : خانم فاطمه هاشمی

گرافیک و دیزاین : غلام مصطفی حمیدی

نشانـــی : وزیر محمد اکبر خان ســـرک ۱۳ ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی

تیلفـــون :۲۱۰۳۱۶٤

تـــیراژ : ۱۰۰۰

ایمل ادرس: Awazrta@yahoo.com

آواز در ویرایش و کوتاه کردن نوشته ها آزاد است.

شرح پشتی : سیتا قاسمی

چاپ : مطبعه آزادی



PROPERTY OF ACKU
S1102

S1102


## دربرگ های این شماره


- سرلیک
- رویدادهای فرهنگی
- حرفهء خبرنگاری
- کتاب اوفرهنگ
- دسینما دهنر مُخینه
- جغرافیای یک غزل
- صحبت اختصاصی با وحید قاسمی
- دغزٚ چینه
- نیم نگاهی برسیرسینمای افغانی
- طلا تپه
- اهمیت طراحی ودیزاین
- تأثیرگذاری نقد بر روال سینمای افغانی
- شناسایی کارمندان موفق
- سناریو به ...
- ستدیوهای تلویزیون
- البوم هنری ، صفحه شعر ودیگر مطالب ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرلیک

د افغانستان ملي راډیو تلویزیون ورځ تر بلې د خپلو هیوادوالو د غوښتنو او وړاندیزیونو په پام کې نیولو سره سم، د پراختیا او بریې په لور ګامونه اخلي. دا مهال د هیواد په کچه ګڼ شمیر خصوصي تصویري او غږیزې رسنۍ د فعالیت په حال کې دي خو ملي تلویزیون پدغه ډګر کې دځانګړتیاوو او نوښتونو پر مټ اوس هغه برید ته رسیدلی چې د خپلو مینه والو او په هیواد مینو افغانانو قناعت ترلاسه کړي. ملي رادیو تلویزیون پدې وروستیو کې خپلو موخو ته د رسیدو لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسمشرۍ د ټاکنو په برخه کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړې، پدغه بهیر کې د راډیو تلویزیون کارکوونکي د هیواد ټولو ولایتونو ته ولاړل او هلته یې له خلکو سره مخامخ ولیدل، د هغوی ستونزې ، غوښتنې او وړاندیزونه یې وخت په وخت خپاره او د چارواکو تر غوږو ورسول. ملي راډیو تلویزیون پدغه ملي پروسه کې مهمه ونډه واخیسته او خپل رول یې په ملي کچه ترسره کړ.

د افغانستان ملي راډیو تلویزیون خپلې دغه لاسته راوړنې کافي نه بولي او هڅه کوي چې لاهم د هر افغان تر زړه ورسیږي او د ځوریدلو هیوادوالو غوښتنو ته ځان ورسوي، همدې موخې ته د رسیدو لپاره پدې وروستیو کې ملي راډیو تلویزیون وتوانید چې د هیواد په دوو لسو ولایتونو کې خپلې سیمه ایزې نشراتي دستګاوې فعالې او خپرونې پیل کړي، او س پدغو سیمو کې زمونږ هیواوال کولی شي چې په عادي انتنونو سره د هیواد او سیمې وروستي حالت، پرمختګ،ستونزو ،د یو او بل د ژوند له ځرنګوالي خبر او ټولې خپرونې په رڼه بڼه وګورې.

لدې سره جوخت د چارواکو د هلو ځلو له مخې ملي راډیو تلویزیون اوس د یوې بلې ۴۰ متره ټاور په درولو سره دلنک سیستم یا دکمرو په نصب او فعالولو سر ه توانیدلی چې د کابل ښار له بیلابیلو سیمو څخه ځینې مهمې پیښې او کنفرانسونه په ژوندۍ بڼه خپاره کړي .

که څه هم چې ملي راډیو تلویزیون اوس په نویو او پرمختللو تخنیکي وسایلو سمبال شوی او لا هم د سمبالیدو په حال کې ده نو چارواکو د هلو ځلو له مخې د راديوتلويزيون کارکوونکو ته وخت په وخت له نویو تخنیکي وسایلو او د ژورنالیزم له اساساتو سره د بلدتیا لپاره ښوونیز او روزنیز ورکشاپونه جوړ شوي او اوس کارکوونکو دا وړتیا ترلاسه کړې چې په ټولو نویو وسایلو مسلکي ګټه واخلي او په خپلو ټولو خپرونو کې مسلکي اصول او قواعد په پام کې ونیسي. پردې سربیره ملي راډیو تلویزیون غواړي چې نوې کال په رارسیدو او بهیر کې خپلې خپرونې لا اغیزمنې او د هیواوالو ټولې ارتیاوې پکې په پام کې ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## مدال افتخاری استقلال

مقام محترم وزارت اطلاعات و فرهنگ ده واحد مدال افتخاری را به مناسبت نودمین سال روزاستقلال کشــــورکه نمایی از«طاق ظفر» وشعاع افتاب دران حک گردیده به ۱۰ کارمندا.

هـــریک : لمیه احمدزی مدیر عمومی مجله آواز، سید محمد صدیقی مدیرعمومی مطالعات تخنیکی ، انجینیر غلام جیلانی مدیر عمــومی بررسی پــروژه های آمـــریت پلان، مسعود مولایی مدیرعمومی اطلاعات رادیو افغانستان ، دوست محمد مدیر عمــومی روزنـــهء تلویزیون ، شیر محمد ترابی مدیر عمومی آرت و گرافیک،عبدالرزاق مدیرتهیهء داخلی ، همیشه گل مدیر عمومی آمـریت ولایات ، محمد الله عضـــو آمریت معارف اســلامی وخانم فروزان مدیر عمومی برنامهء ازبیکی ، که خدمات صادقانه وارزشمند را در زمینهء کاری انجام داده اند، توسط داکتر عبدالـمواحد نظری رئیس عمومیؑ رادیو تلویـــزیون ملی افغانستان و سید نادر احمدی معاون ریاست عمومی تفویض نمود.



## دکابل تاریخی ښار د ۲۰۲۴ کال لپاره داسلامي نړۍ دفرهنګی پایتخت په تو ګه وټاکل شو.

دکابل ښـــارچی ویل کیــــــــــــږي پنځه زره کلن تاریخ لـــــري د تلی یا میــــزان د میـــاشتی په ۲۵نیتــــه دآذر بایجـــــان په پایتخت کي داسلامي هیوادونو دفـــــرهنګ دوزیرانو په شپـــــــــــږمه غـــــونډه کي د ۲۰۲۴ کال لپاره داســـــلامي نړۍ دفـــــــرهنګی پایتخت په تـــــوګه اعلام شو.

داطلاعاتو او فرهنګ وزارت داعلامیي په خپـرولو سره دغه موضوع یو بریالیتـوب وباله او د ۲۰۲۴ کال لپاره دکابل د چمتو کـولو په مقصد دښار یانـو د همکاری غوښتنه کړي ده .

دوه کاله مخکي دلیبیادطرابلس په ښارکي داسلامي کنفرانس دغړوهیوادونو په پنځم کنفرانس کي دافغانستان دغزني تاریخی ښار ۲۰۱۳ کال لپاره داسلامی نړۍ د فـــــر هنګي پایتخت په توګه ټاکل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رویداد های فرهنگی

# دزدان آثار باستانی در هرات، گرفتار شدند

مقبره ء «گوهرشاد بیگم » آثار وابنیهء بسیار ارزشمندی را درخود جای داده است که ازشاهکار های هنر معماری وکاشی کاری قرن نهم هجری به شمار می رود.

افزایش دزدی اثار باستانی، فرهنگیان وفرهنگ دوستان ولایت هرات را به شدت نگران ساخته است.

مقامات پولیس هرات مي گويند: شب گذشته ، چهار تن ازدزدان آثار باستانی، به صورت ماهرانه اي به محوطهء گنبد گـــــــوهرشاد بیگم هجوم آورده و قصد دوزدی چهار تخته سنگ مقبره این محل تاريخي هرات را داشتند.

سمنوال « نورخان نیک زاده »سخنگوی قـــوماندانی امنیهء هرات گفت : پس ازاین که پولیس درجریان این دوزدی قــــرار گرفت گروهی را به منطقه فرستاد که درنتیجه سارقین در خارج ساختن سنگ های متذکره ناکام ماندند.

اقای نیک زاد افزود : پس از بررسی هایی که از سوی پولیس انجام شد، دو تن به اتهام دوزدی آثار تاریخی بازداشت شدند و تحقیقات از آنها اغاز گردید، اما دوتن دیگر ازاین دزدان موفق به فرار شدند.

مسؤولین ریاست اطلاعات و فـــرهنگ ولایت هـــرات میگویند : سنگهايي كه دزدان قصد دوزدی آنها را داشتند مربوط به دوره تیموریها میباشد که قدمت تاریخی انها به بیش از ٥ صد سال می رسد.

« نعمت الله سروری »رئیس اطلاعات و فرهنگ ولایت هـــــــرات از این اقدام پولیس قدردانی نمود و از آنان خواست تا سایر همدستان افراد بازداشت شده را شناسایی و به پنجهء قانون بسپارند.

سرقت میراث فرهنگی در ولایت هرات تازگی ندارد. چندی پیش ۲۲ قلم آثار تاریخی گرانبها از موزيم دولتي هرات و چندين قلم آثار تاريخی دیگر از موزیم غیر دولتی سلطانی در این ولایت سرقت شد که تا اکنون از سرنوشت آثار دوزدی شده معلوماتی در دست نیست.

با اینکه نیــــروهای امنیتی درهرات به ارتباط سرقت آثار تاریخی موزیم ارگ یکتن را بازداشت کرده بودند، اما مرگ غیر طبیعی فرد گرفتار شده همچنان این موضوع را در هاله ای از ابهام قرار داده است.

کارشناسان فرهنگی در هــــرات براین باوراند که دزدی آثار تاریخی در ولایت هـــــرات به یکی از عمــــده ترین نگرانی ها در این ولایت مبدل شده است.

# سیما ترانه ازدواج نمود



« سیما ترانه » در میان هنـــــرمندان موفق و خــــوش آواز کشور به زود ترین فـــرصت به جایگاه هنری راه یافت و باآواز دلنشین و تــــــرانه های زیبایش قلب همــــه گان را تسخیر کرد.

سیما تـــرانه از هنرمندانیست که به تازه گی ازدواج کرده است گفته می شـــود نام همسر سیما ترانه محمد عمر رفایی است از سرزمین مصر می باشد و تحصیلات خـــــودرا در رشتهء انجینیری تکمیل نموده است .

در جواب ســـوالی که آیا همسر تان هنـــر دوست است می گوید:

اگر موضوع هنـــرم مطـــــرح نمی بود، چندین سال از ازدواجم می گذشت. همسرم با این امر موافق است . محفل عروسی را خیلی ساده و بدون تجمل در نظر داشتیم ؛ اما زمانیکه هنرمندان گـــرامی اگاهی حاصل کـــردند ، بنده را زیاد قدر نمودند و هر کدام به نوبهء خــویش سهم هنری و خـــوشی شان را اداکردند که از صمیم قلب از ایشــــان ممنون و سپاسگزارم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخی راهی شاعر و تنصیف ساز بی بدیل کشور داعی اجل را لبیک گفت.
انالله انا الیه راجعون
سخی راهی در سال ۱۳۳۳ در شهر کابل چشم به جهان گشود و در سال ١٣٦٤ به حیث کارمند رسمی در رادیو تلویزیون ملی مقرر شد مرحوم راهی در شعبات مختلف رادیو تلویزیون ملی ایفای وظیفه نموده است و نه تنها یک شاعر و نویسنده موفق بود بلکه تنصیف بسیاری از آهنگ های هنرمندان نامور کشور را آماده و یاری نموده است و هم چنان یکی از همکاران مستعد قلمی مجله آواز هم بود.
نام و ترانه های درخشان راهی همیشه رفیق دلهای درد آشنای ما و نسل های بعدی خواهد بود.
مرحوم غلام سخی راهی به تاریخ ۲۰ دلو سال روان از اثر سکته قلبی به وفات نمود. هیت رهبری و کارمندان ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی و اداره‌ء مجله آواز و فات این فرزند فرهنگی کشور را یک ضایعه بزرگ خوانده وبرای دوستان مرحومی صبر جمیل و به متوفی جنت فردوس را از خداوند منان استدعا دارد
روحش شاد باد.



محمد اجمل ختک سیاستمدار و شاعر مشهور زبان پشتو در اثر مریضی ایکه عاید حالش شده بودروز دوشنبه ۱۹ دلو به عمر ۸۵ سالگی جهان فانی را وداع گفت.

وی به حیث سناتور و عضو حزب عوامی ملی اجرای وظیفه نموده و چندین کتاب شعر و نثر به زبان پشتو و اردو تالیف نموده است.

اجمل ختک در ۱۵ سپتامبر سال ١٩٢٦ در قریه «اکوره ختک» تولد شده بود. وی دو مرتبه به حیث رئیس حزب عوامی نشنل اجرای وظیفه نموده و در سال ۱۹۷۳ به حیث سکر تر جنرال حزب اجرای وظیفه نموده بود و درسال ۲۰۰۸ برنده جایزه کمال فن نیز شده.

ختک سالهای زیادی در افغانستان تبعید شد و به حیث مهمان دولتی دیده می شد. اولین شعر وی در سال ١٩٤٤ در مجله پشتون و اولین مجموعه شعری وی به نام « دغیرت چیغه» در سال ۱۹۵۸ اقبال چاپ یافت که بعدا" این اثر در افغانستان و پاکستان ممنوع اعلام شد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حرفهء خبرنگاری



**خبرنگارکیست ؟**

خبرنگار کیست ؟ آیاهرکسی میتواند خودش راخبرنگار بنامد وهرچه میخواهدبنویسدیا پخش کند؟ اگرپرسش این بود که « آیا هرکسی میتواند خودش را داکتر بنامد؟» پاسخ دادن به آن دشوار نبود : البته که نه ! برای داکتر شدن دانش ، آموزش وتجربه لازم است ، اگرنه بیمار عمر درازی نخواهد داشت. هرحرفهء دیگری هم به دانش ،آموزش وتجربه نیاز دارد. اگر ساختمانی چند طبقه را معماری بی تجربه بنا کند ، ساختمان حتماً دیریا زود فروخواهد ریخت . یك مثال دیگر : آیامیل دارید درهواپیمایی سوارشوید که پیلوت آن هرگز آموزش ندیده باشد؟

خبرنگاری چطور؟ ظاهراًبسیاری فکرمیکنندهرکسی میتواند بدون آموزش یا دانش تخصصی به کارخبرنگاری بپردازد . آیااین فکر درست است ؟ ما خبرنگاران درگیرکاری هستیم که به بلوغ فکری و احساس مسوولیت نیاز دارد . درست مانند داکتر یا پیلوت کار نیازموده ، خبرنگاری هم که هرچه دلش میخواهد بنویسد ، میتواند آسیب بسیار به بار بیاورد . چنین خبرنگاری میتواند حیثیت فرد بیگناهی را به باد بدهد . یا با پخش دروغ یا اطلاعات نادرست خشونت یا آشوب به پاکند، وچه بسا باعث شود که عده ای جانشان را از دست بدهند . خبرنگاران درشکل دادن به افکار عمومی نقش دارند . مردم برای گفته های آنان اهمیت قائلند . در نتیجه خبرنگاران باید با حرفه خود آشنایی داشته باشند تا با رفتار غیرحرفه ای به کسی صدمه نزنند . میشود گفت خبرنگار حرفه ای کسی است که مانند صاحبان حرفه های دیگر (مثلاً پزشکان و مهندسان) ازضوابط حرفه ای پیروی کند .

افراد از راههای مختلفی به حرفهء خبرنگاری وارد میشوند . دربرخی کشورها مقررات خاصی وجود ندارد و دست کم رسماً عنوان ‹خبرنگار› در انحصار کسانی نیست که آموزش یاتجربهء خاصی داشته باشند ؛ اما درعمل مسؤولان رسانه ها به دنبال کسانی هستند که بتوانند بنویسند ، یا درجلومیکروفن 'یا دوربین ظاهر شوند وازمسایل روز باخبر باشند ؛ حتی چنین افرادی هم معمولاً از کارآموزی ، بادرآمد پایین ، آغاز میکنند وغالباً تا دوسال دراین مرحله میمانند . کسانی که میخواهند به حرفهء خبرنگاری وارد شوند ، چه بسا پس از پایان

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحصیل دانشگاهی دریك رشتهء دیگر ، برای آموزش تخصص خبرنگاری دوباره به دانشگاه بروند . دربرخی کشــور ها برای ورود به حـــرفهء خبـــرنگاری محدودیت هایی مانـنـد گزینش و گذراندن دوره های آموزشی خاص وجـود دارد که عالباً تـــوسط دولت ایجاد شـده اند. حتی پس از طی این مـــراحل هم ممکن است لازم باشد فـــرد مجوزی دریافت کند تا بتواند به کار خبرنگاری بپردازد. این مجوز را ممکن است اتحادیه خبرنگاران ، یا یك نهاد دولتی صـــادر کند، و ممکن است لازم باشد که اعتبار آن به طـور منظم تمدید شود.

**کار خبر نگار چیست؟**

به عقیدهء بنیانگذار بی بی سی ، جان ریث، وظایف اصـــلی این ســـازمان عبـــارت بـود از: آگاهی، آموزشی ،و سرگـــــــرمی. امـــروزهم کار بیشتر خبـــــرنگاران همین است ، چـــه در روزنامه ، چه در رادیو یا تلویزیون و چه در اینترنت. اطـــلاعات دقیق به مردم کمك میکند تا در مورد آنچه که در کشــــور شان و در جهان میگذرد تصمیم بگیرند. مردم میتوانند با استفاده از رسانه ها ، مهارت ها و دانش خود را افزایش بدهند.سرگرمی هم، به ویژه در اروپا و امـــریکا ، بخش بزرگی از فعالیت رســــانه هاست. البته ، مطلب یا برنامهء سرگرم کننده ای که با دقت تهیه شده باشد، میتواند اطـلاع رسان و آموزنده هم باشد.

خبـــــرنگار ممــــکن است در یك روز معمولی کار خـــود در یك ، چنـــــد، یا تمام فعالیت های زیر اشتراک کند:

* حضـــــور در صحنهء وقـوع خبریا برنامهء از پیش تعیین شده.
* گـــــــردآوری وپـــژوهش در بارهء اطـــلاعات و نظــــرات تحـقیـــق در بارهء اخبــــــار.
* انتخاب مهم ترین و دقیـــق تــــرین اطلاعات.
* تهیه و عرضــــهء مطلب گرد آوری شده به اشکال مختلف ، مانند گزارش، مصاحبه ، مقاله، یا تفسیر.
* اظهار نظر در بارهء رویدادها.
* درخـــــواست مطلب از خبــــــر نگاران دیگر.
* بــــــررسی و ویــــراستاری مطالب دیگران.

اطــــلاعات دقیق به مردم کمك میکند تا در مورد آنچه در کشـــورشان و در جهان میگذرد تصمیم بگیرند :

خبـــرنگاران معمولاً مقـــدار زیادی اطـلاعات را پـــــردازش میکنند و به شکلی درمی آورندکه بـــــرای عُـــدهء

بقیه صفحه ۵۰



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دسينما دهنر مُخينه

داکتر عبدالواحد نظری

دنولسمي پيړۍ په دوهمه ځلرمه کي زيات شمير مخترعانو خپل هاند او هڅي دعکاسي هنر کشف ته وقف کړي اوله همدغه لاري يې دسينما تاريخ د زيږندي څخه مخکي دوره کي، دثبت دتخنيک اود خوځنده تصويرونو دوړاندي کولو په برخه کي زيات شمير لاسته راوړني دځيرونکو او مينه والو په واک کي ورکړي. په لومړيو پړاوونوکي ددي موضوع څخه دعکاسي لپاره دزمان له مخي ډير اوږد وخت په کار و. دعکاسي حساسو موادو پرمختګ او دکامري دلنزونو کارونه، دنور ورکولو دمودي واټن په ورو ورو راکم کړ، ترهغه خايه چي په ۱۸۷۰م لسيزه کي بشر بريالي شو تر څوديوعکس اخستل ديوي ثانيي څخه په نسبتاً لږ وخت کي چمتوکړي. اوس ديوي خوځندی موضوع څخه دتصوير اخستني شونتيا لپاره دسينما ننداري ته وړاندي کيږي او په ننداره کي يې په پوره توګه تر لاسه سوي وه.

په پيل کي هنر وايم که صنعت يوازي په دي خاطرمنځته را نغي چي دبشرهيله وه په دا سي حال کي لکه مخکي چي موويل عکاسيً منځته راغلي وه، نو ددي فن پوهانو کو شش کاوه چي داعکسونه خوځنده کړي اود انسان دسترګو دهغه خاصيت څخه په ګټه چي تر يوه وخته تصوير ساتي لپاره يي ر از راز تجربي تر سره کولي يا دحرکت مختلف انځورونه به يي په لاس رسمول او يا دا سي وسايل جوړ کړل چي تر يوه حده دا احساس وليدونکي ته پيدا کاوه

چي يو څه په حرکت کي ووينې...نوموړو انځورونو په چټكي سره يو په بل پسې دڅو وړو پنجرو او يا يو شمير هندارو په مرسته دحرکت بني ښودلي، ځيني وختونه به دغه



انځورونه ديوي دايري په بڼه د صفحي په مخ په ترتيب راتلل او يا به د منظم پټي په څير په پرله پسي توګه ديوي استوانه اى سطحي په خوا او شا ځرخيده. ځرنګه چي په دغه سيستم که يوازي له کم شمير انځورونو څخه ګټه اخستل کيده، نو ځکه ننداري ته وړاندي شوي حرکتونه په طبيعي توګه ډير ساده او تکراري وه. دهغه ابزارو او سامان آلاتو لپاره چي دنوموړي طريقي په مرسته يي دحرکت شونتيا رامنځ ته کړه ډول ډول او پيچلي وسيلي لکه (زويتروپ) (**Zoetrope**) (پراکسينوسکوپ) (**Praxinoscope**) او (استرو بو سکوپ) (**Stroboscope**) او نور د جادويي فانوس سره چي يوازي يو انځور به يي دپردي پر مخه په تياره کوټه کي ښکاره کاوه يو ځاي سول او دخوځنده تصويرونو ابتدايي شکل يي جوړ کړ.

ددي تولوسره ډير دا سي مخترعين بي له دي چي و خوځنده تصويرونو ته لاره پيدا کړي دسينما په منځته راتلوکي ډيره مهمه ونډه لوبولي ده.

په ۱۸۷۸م کال کي ادوارد مايبريج (**EdwardMuybridge**) دځلورويشتو کا مرو يو تر بل تر څنګ د ايښودلو په نتيجه کي چي ديوه ځغلنده آس تصويرونه واخستل. په۱۸۸۲کال کي يو ځناور پيژندونکي فرانسوي ژول مار تين دمايبريج څخه په الهام اخستلو دا سي يوه وسيله چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعکاسـي دتوپـك پـه نامـه يادېـده د حيوانانو د حرکت دمطالعي په خا طر جوړه کړه، دا وسيله چي تو پك ته ورتـه وه، پـه يـوه ثانيـه کـي دوولـس عکسونه ديوي ښيښه يي ګردي ورقي پر مخ چي پـه تـو پـك کـي تاويدل اخستل. همـدا راز ايتـين مـاري(Etienne Marey) لومړي سړي وو چي دحرکت دا خستلو په خا طر ددا سي مـوادو څخـه ګټـه وا خستل چي دکتوور وه. که څه هم دده مقصد دا نه و چي هغه پر پرده ښکاره کړي بلکه دحرکـت مطالعـه وه، خـو دده دا کـار دنورو مخترعا نو دالهام سبب سو.

بلا خره دنولسمي پېړی په ورستيو کلنو کي په مختلفوصنعتي هيوادوکي دپخوا نيو تجربو پر بنياد يو په بل پسي خپلي کامري او پرو جکتورونه چي خوځنده تصويرونه يي ښکاره کول ،ثبت او ننداريته وړاندي کول. ددي کار عمده ونـډه اديـسون او ديکـسون (Adeison and Dickson) په متحده ايالاتو او دلو مير وړونو ته په فرا نسه کي ور په برخه سو. خکه په امريکا کي اديسون خپل فونو ګراف (Fonograph)کي د ږغ ثبتول تر سره کړی وو او غوښتل يي چي تصويرهم ور سره يو خاي کړي. ده د تصويرد ښودلو په خاطرد يوه مار پيچه استواني با ندي تجربه کول چي وروسته د جورج ايستمن (Eastman) چي خپل سلو لو ييدي پټۍ يي بازارته عرضه کړي وه، په استفادی سره خپله کامره دکينتوسکوپ په نامه جوړه کړه،چي ترشپږو سوو تصويرونو پوري يي ثبتول، ولي دده کينتوسکوپ (Kinetoscope)يوازي يو کس په يوه وخت کي ليدلاي سواي. چي ديوه سوري څخه به ليدل کيدي.

ددغو سيستمو څخه يو هم دماکس او اميل سکلا دا نوو سکي ( Max and Emile skladanowsk) و، چي په هغه کي ددوو پټيو څخه استفاده کيده چي يو خاي به يي حرکت کاوه.

دسينما او فلم ننداره په نني ډول د اديسون (Tomas Adeison) دنظرياتو او لو مير د وړونو چي د اخستل سويو تصويرونو پټی يي دجادويي فانوس په ذريعه پر پرده ښکاره کيده په



پايله کي وزيږ يدی.

اګوست او لويي لومير (Lumiere Brothers) چي خپله د عکاسي ديوي فابريکي خاوندان وه او د پلاره ورته پاته وه دخپلي لومړني دستګاه د سينما تو ګراف (Cinematographe)په نوم ونومول هغه نوم چي تر اوسه دخوځنده تصويرونو دننداري په نامه مشهورډی.

لومړنی ننداره د دلومير د وړونو دفلمونو په ۱۸۹۵م کال ددسمبر په ۲۸ مه په پاريس کي پيل سوه. دالو مړني فلمونه لنډ مستند فلمونه وه.

د شلمی پيړی په لومړی لسيزه کي موږ ددي شاهدان و چي سينما ديوه صنعت په توګه د نړيوال فني اصولو پر بنياد دنړي دتفريح په يوه وسيلي تبديل کيږي. د لومړنيو خوځنده تصويرونو په اخستو کي،کا مري يو ثابت موقعيت او يو اجمالي ليد وصحني ته ورته وال درلود ولي په تدريج سره د صحني دمختلفو زاويو څخه فلم واخستل شو، شاټونه اوږده سول. دي تکنيك د دراما تيك بيان لپاره دلوبغاړيو په وسيله لاره هواره کړل سوه.

داديسون او لو مير د وړونو فلمونه ډير ساده وه او تر يوي دقيقي پوري به يي وخت نيوي، خو کرار کرار دا سي فلمونه جوړ سول چي تر دريو دقيقو پوري رسيدل تر څو چي په ۱۹۰۳هـ ل کال کي د ريل غټه غلا ( The Great Train Robber) په نامه فلم چي ۱۳ دقيقي وو په جوړيدو سره دسينما تاريخ ديوه نوي پړاو پرانيست خکه چي دسينمايي بيان خيني مهمي بيلګي لکه موازي مونتاژ، کلوز اپ ( Close up ) او خاص ډرا ما تيك

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيان در لود..

تیروخت تـه پـه کتوسـره، د سـینما توګرافي یاتصویر دثبت وسیلي اصولي او علمي تعریف اودهغي خانګړتیاوي په ساده اولنډه توګه په دي ډول بیانیږي.
چي یوه کامره، په صحنه کي دموضوع لـه حرکـت څخـه، دثـابتو عکـسونو مجموعـه دعکاسـي حساس فلم، دیوي رڼي (شفاف) پټي پر مخ ثبتوي اودیوه پروجکتـور(ننـداریزي دسـتګاه )پـه واسـطه دعکـسونو دهمدغي مجموعي غبـ شوي تصویر، په تیاره سالون کي دپردي مخته لیږدوي. خو دکامري په دننه کي دراخرګند شوي فلم، حساسیت او سـرعت لا یـوه سـتونزه وه. اوپـه همدغه اساس وو چي په ثانیه کي د ١٦ تـصویرونو معـادل سـرعت د ادیـسون اونـورو پـه واسـطه داسـتفادي وړ وګرځیده. دنوموړو تصویرونو دثبت او وړانـدي کولـو لپـاره یـوډول دنـور پـه وړانـدي حساس فلم د ایستمن لـه خـوا د ادیسون په واک کي ورکړ شو. نوموړي فلم د٣٥ ملي مترو په شاو خوا کي پلن وو.
دا رازفلم د سینما له دراماتیکوامکاناتو نه پـه ګټـه داشـونتیا تر لاسـه کـړه چـي لـوړ داستانونه او دهغو د عـاطفي اغیزو سره یوځاي دپردي پرمخ ننداري تـه دوړانـدي کیـدو جوګـه شـو. د اوړدو فلمونـو تولید دعامه ننداري دسترو سالونونو دجوړیدو عامل وګرځید. او دکانسرتونو اوتیاترونو پخوانی سالونونو دفلم ښودلو لپاره اماده سول. ..
سینما دشلمي پیړي هغه زیږنده وه چي ډیـر ژر یـي د او و م هنرنـوم وګاټـه نـه یوازي چي نوم یي ترلا سه کړ بلکه تولـه نور هنرونـه لکـه ادبیـات، مجسمه جوړول، تیاتر، موزیك، رسامي، مهندسي او رقص یـي پـه خپـل خـدمت کـي وګمـارل اودعصري تخنیك دانکشافاتو څخه په ګټه اخستو یي په ډیر لږ وخت کي دپرګنو په زړونو کي خانته خاي پیدا کړ او دنوي عصر په لوړ، په زړه پوري، اغیز من هنر او فن بدل سو. د دنیا په ګوډ ګوډ کـي، سـینما ګـاني جـوړي سوي، دفلم جوړولوسـتدیوګاني، اودزده کـړي او ترینګ مرکزونه جوړ سول، ډیرو مینه والو دخپل بخت ازما یلو په خا طر دي نـوي هنر تـه مخـه وکړه او پـه ډیر لږ وخـت کـي یـي خپلـه خانګړي ژبـه پیدا کـړه، سینمایي وسایلو وده وکړه .ددي هنردلا تنوع په خاطرنوي ابعاد اوپردي پیدا کړي.(١)

.او پـه افغانـستان کـي د سینما تـاریخ د امیرامـان الله خـان دواکمنـي د ١٩٢٢، ١٩٢٥ مـیلادي کلونـو یـاني لـه اروپا څخـه هیـواد تـه د دوی د سـفرد را وروسـته وخـت سره تـړاو لـري. پـه همدغو کلونوکي لومړی ځـل یي غـږه فلم دپغمـان پـه سـلطنتي بـاغ او دکابـل دعـسکري کلـوپ کـي د درباریـانو او پوځي افسرا خپلـه شاه امان الله خـان او علامـه محمـود طـرزي د افغا نـستان د ژورنالیزم پلارهم ګډون کوي .
د ( عـشق او دوسـتي ) فلـم د رشـید لطیفي چي هغه وخت دپو هني ننداري مسوول و. د نشاط ملك خیل اونورو دتیـاتر دلوبغـارو پـه مرسـته لکـه عبـدالرحمن بینـا، احمدضـیاراتب زاد، نورمحمد افغان په ١٣٢٥هـ.ل کال کي دلاهور ښار دفلم جوړوني دیوي کمپني په مرسته (هما فلم ) کي پاي ته ورسوه. دافلم ددي پـه خـاطر لاهور تـه یووړل شـو چـي دیـوي خـوا دفلـم جوړولـو تخنیکي وسایل او مسلکي پرسونل دلته نـه وو او بـل هـلته ښځینه لوبغاړي پـه



(c) ketabton.com: The Digital Library

اساني مونډل کيدي او په کابل کي داکار گران اونامکن و. په نوموړي فلم کي نشاط ملک خیل دشاعر په رول کي عبدالرحمن بينا ديوه نظامي کپتان او يوپيښورى نجلي ( زيب قريشي ) دمريم په رول کي راڅرگنديدل. او ډايرکټ چاري يې د(هرالډ لوئيس ) په غاړه وي. دغه فلم د سينما په تاريخ کي په افغانستان کي لومړني فلم وو، چي دري ځلوېښت دقيقي وخت يې ډيردي پر مخ نيوى او دهغه وخت سينما کابل او دولايتونو په نورو سينما گانوکي ننداري ته وړاندي شو. کولاي شو چي دغه فلم دفلم جوړوني لومړني هسته او دراتلونکو ځوانو او استعداد لرونکو فلم جوړونکو دلاري څراغ وگڼو. او هم دمرحوم لطيفي او بيا په خانگړي توگه دنشاط ملک خيل زحمتونه چي نوموړي فلم يې په خپله شخصي سرمايه او څه ناڅه دنورو په مرسته جوړکړ په قدر سره وستايو .(دا فلم کله چي زه دافغان فلم دريا ست چاري را تر غاړي وي ديو ه چا څخه، چي ډير پيسو ته اړ وو او د نشاط ملک خيل دکورنى څخه و، دپيسو مقابل کي تر لا سه).

دا لومړنى افغاني فلم تر ډيره تياتري جوړښت لري او لکه څنگه چي دنامه څخه يې پيدا ده دعشق او دو ستي پر بنياد جوړ شويدى، خو دجوړښت له خوا ډير ساده او کليشه يي دى، دوه دو ستا ن چي يو يې شا عر او بل يې کپتان دى او دواړه ديوي انجلى سره مينه لري، خو انجلى خپله بيا دشا عر سره مينه لري، شا عر کله چي دخپل ملگري له خوا مجبوريږي چي دهمدي انجلـى لپاره مرکه وکړي دخپل ملگرتوب په پاس غواړي چي د نجلى تو جه دخپل ملگري وخوا ته واړوي ....

فلم لکه دا کثرو هندي فلمونو په شان ميلو دراماتيک جوړښت لري او په ساز او آواز پيل کيږي او دفلم په اوږدو کي هم دا ساز او آواز ځاى کړى شوى دى. خو دخو شحا لي ځاى دلته دى چي د لومړنى افغاني فلم لپاره افغاني سندري چي د( استاد بريښنا) له خواکمپوز سوي دي، چي دفلم د ښکلا نقطي

(۱ تاريخ سينما مولف ديويد پوردول اوکرستين تامسون)

هم همدا سندري دي. دشاتو نوکمپوزيشن په ښه وجه ترسره سوي دي او ځينـي شاتونه پر سپکتيو او عمق هم لري.

فلم ديوه لومړني فلم په صفت تر ډيره حده دمنظمو او حساب شوو شاتونو در لوډو نکى دي. چي دا کار تر ډيره حده دگمنامه ډا يرکټر هرالد لو ئيس دکار ښه بيلگه ده.

داچي دغه فلم زړونو ته لاره وموندله، که نه؟ دفلم پرجوړښت او نيمگړتياوو څه ليکل، چي له نن څخه۶۳ کاله مخکي دهيواد اوضاع اوحالت او دوخت دلازمو فنـي او تخنيکـي شـونتياوو او ذهنـي، فرهنگي شرايطو په نظرکي نيولو سره بايد هغه له پامه ونه باسو. فلم بايد يادو شوو شرايطو ته په پام سره وڅيړو. په هرصورت دغه نوي بنسټ لکه څرنگه چي هيله وه او غوښتنه تري کيده، په خواشيني سره پراختيا ونه موندل، اوبل څوک هم دفلم دتوليد په برخه کي لاس په کار نشو.

دولت هم ( دفلم جوړوني ) دغه دلگښت نه ډک هنر سره هومره مينه او علاقه ونه ښودل، له همدي امله خلکو د ايرانـي، هنـدي او امريکـايي فلمونو ته



مخه کړه. نوموړي فلمونه دليدونکو له خوا لومړى د ښار په يوا ځني سينما يا نـي دکابل سينما کـي کتل کيده، بيا وروسته د بهزاد سينما چي په باغ نواب کـي يـي موقعيـت درلـود او د پـامير سينماته دفلم دننداري لپاره تلل.

دغـه فلمونـه د اطلاعـاتو او کلتـور وزارت دپوهني ننداري رياست دفلم دتوريد دعمومي مديريت لخوا له بهر څخه دکرايي په بڼه هيواد ته واريديدل، ترڅوچي دوخت په تيريدو سره د (فيض محمد خيرزاده ) په نوم يو روڼ آندي او منور شخص چي لوړي زده کړي يي په امريکا کي پاي ته رسولي وي، دښکلو هنرونو په نامه ديوي موسسي بنياد کښيښود او دنورو هنري اوتعليمي پروگرامونو تر څنگ د (مانند عقاب) ۱۳۴۳ هـ.ل په نوم فلم دجوړيدو په فکرکي شو. ده د فلم سناريو وليکله اود ډايرکټ او پر وديوس دنده هم دده پـه غـاړه وه. دفلـم اخستو چاري يـي(محمداسحق ستارزاده ) ترسـره کړي. په نوموړي فلم کي د ظاهر هويدا نه پرته، چي دفلم په يوه صحنه را څر گنديږي، يوه کوچنى نجلى دناجيه په نامه په مرکزي رول کي برخه اخستي ده .

پاتي ۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهمیت طراحی و دیزاین

عزیزه احمد زی



نقش صحنه آرایی و دکور دربرجسته گی ، جلـــوه و جلایش استیژ در دیدهء بیننده مهم وتأثیر انگیــزاست . به هم آمیختن رنگ ها تو سط طـــــراح ، تنظیم و جابه جا سازی کپشن ها وصحنه آرایی باأذین توسط هنر گرافیک نقش بساعمده در نمایشات تیاتر، نشرات تلویزیون وسینما می داشته باشد.

دراین صفحهء مجلهء آوازصحبتی با آقای شیرمحمد ترابی مدیر عمومی ادارهء آرت وگرافیک تلویزیون ملی داریم و در مورد دکوریشن برنامه ها که امید مورد علاقه قرارگیرد:

آقای ترابی یکی از اولین فارغان پوهنځی هنـــــرهای پوهنتون کابل است وی درسال ۱۳۵۸ شامل کار در ادارهء آرت وگرافیک شد و ازهمان آوان تا امـــــروز به صدها اثردکوری درآرشیف تلویزیون دارد .

آقای تـــــــرابی در مورد ادارهء آرت وگرافیک چنین معلومات ارایه نمود.

ادارهء آرت وگـــــرافیک از ابتدای نشرات تلویزیون ایجاد شده و بنیان گذار آن آقای « نبی اله هنرمل » می باشد.شعبات گرافیک ، دیزاین ، مکیاژ و نجار خانه در هماهنگی با نشرات برنامه های تلویزیونی اجرای و ظایف می نمایند.

پرسش - لطف نمـــوده در مورد ارزشمندی دکور در برنامه های تلویــزیون نظرتان را بگویید؟

پاسخ - دکورباصحنه آرایی در تلویزیون ، یکی از وجـــــوه بصری مهم و اثر گذار دربیان هنر های دیداری محسوب می شود . که نمی تــوان به ساده گی از آن گذشت در طراحی و دکور تحلیل همه جانبه و تفاهم با کار گردان برنامه ها و هویت فرهنگی کشور باید در نظر گـــرفت هرگاه نمایش



بدون دکور و طــــراحی ثبت شود تاثیر کمتر خـــواهد داشت برای بینند زمانی که اتاق بدون دکـــور و چهاردیوارباشد طبعا" خوش آیند نیست . پس درهر برنامه و نمایش دیزاین جـــزمهم و اساسي را تشکیل مي دهد .

پرسش - فن آوری جدید چقدر درکارهای تان سهولت به بار آورده؟

پاسخ - صحنه آرایی اکنون آنقدرپیشـــرفت کــــرده که عمل دراماتیک و تمثیل را قــــوی تر و بهترجلوه می دهد . به کمک اختـــراعات جدید و صحنه آرایی جدید توسط کمپیوتر و سیستم جدید دیجیتـــال ، صحنه را به طور دقیق تر برجسته و تصاویر گوناگون عقب صحنه را روشنتر نشان می دهد . وبا کار بـــــرد برق و نـــــورافگن ها بـــرای تغییر صحنه ها نیز کمک موثر در استیژدارد که بیننده را مشغول و محو تماشا و نمایش می نماید.

پرسش - تاا‌کنـون در صحنه آرایی ودیزاین فـلم های سینمایی سهم گرفته اید؟

پاسخ - بـــلی دردوفـــلم سینمایی بــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفت دکوریشن و ارت دایرکتر سهم داشته ام؛ یکی فلم فرانسوی به نام «صلح را دوست دارم» و دوم فلم جاپانی «ستاره سرباز» و حال مصروف تهیه دکور بعضی صحنه های فلم افغانی «مولانا» که دربرگیرندهء زنده گی نامه مولاناجلال الدین محمد بلخی است می باشم .

پرسش - درمورد صحنه ارایی بزرگداشت از مناسبت های مختلف برنامه های عیدی نوروزی ارزش دکور و طراحی چقدر مهم است؟



پاسخ - در قسمت دیکور و طراحی برنامه های فوق العادهء تلویزیونی کار هایی را به شکل ظریفانه با هم بافت میدهیم چه از نگاه مخلوط رنگها و طراحی ان وچه از نگاه نجاری،حکاکی و استفاده ازتکه های کاج وکاغذ های زر ورق دار که نور های رنگا رنگ را جذب و انعکاس زیبا وجلوه گر می داشته باشد تهیه می نمایم تا برنامه جذابیت خاص را ازخود نشان دهد.

پرسش - پیشنهاد تان به خاطر بهبود ورونق وجذابیت دیکور درتلویزیون چیست؟

پاسخ - پیشنهاد من در قسمت نو آوری دکور های جدید این است که فن آوری معاصر با توجه به خواستهای زمان و بادرنظر گرفتن فرهنگ مردم باید تا دکورهای خود را با زمان تطابق دهیم واین خیلی موثر خواهد بود . امیدارم تا درآیندهء نزدیک به همچو دکورها دسترسی پیداکنیم .

یکی ازمهم ترین عوامل ساختاری که تاثیر بیشتر حضور شخصیت ها می شود دکور و لباس است در مورد ، آقای رفیق ایاز کارمند مجرب و فعال ادارهء ارت و گرافیک میگوید:

لباس یکی از عوامل موفقیت و پر بیننده شدن ، تیاتر ، فلم و نمایش محسوب می شود .

بیننده به هرنوع پوشش به ویژه در فلم های تاریخی ، اهمیت زیادی می دهد . نمایش تیاتر «میرویس خان نیکه » به اساس نوشته استاد مستعد مرحوم «عبدالغفور برشنا» دایرکت گردید.

از همان آغازتحقیقات و سیعی را در بارهء آثار تاریخی آغاز کردم مخصوصا" ازآثار و نقاشی استادمرحوم برشنا دیدن کردم . با کمی تفاوت نمونه لباس را آماده و به دسترس هنرمندان تیاتر میرویس نیکه گذاشتم.

وی درمورد دکور گفت که براساس اندازه و محاسبه تهیه و ترتیب می گردد . زمانی که دکور نصب شد سپس دیزاین به اشکال گوناگون صورت می گیرد.

پرسش - لطف نموده در مورد کار برد رنگها، نور و اهمیت آن در دکور و دیزاین روشنی اندازید؟

پاسخ - در نمایش ها کار برد رنگ مر بوط به خواست کارگردان است اگر نمایش های و هنرمندان برجسته تر و روشنتر نمایان



گردد، در دیزاین از رنگ های سفید کریمی ، آبی روشن کار گرفته می شود و رنگ های تاریک اکثرا" در نمایش های تاریخی به کار گرفته می شود به همین ترتیب استفاده از نور با لایت های رنگا رنگ هم نقش عمده یی را دارند.

اصلا" دکور ودیزاین به روحیه برنامه تهیه می گردد، کارگردان موضوع برنامه را با ما در میان می گذارد وسپس ادارهء ما دکور را تهیه می نمایند.

پرسش - آیا آرشیفی برای نگهداری لباس و دیزاین دارید؟

پاسخ - باتأسف که آرشیفی وجود ندارد.

لباس هایی که برای تیاتر میرویس نیکه ، مولانا و به ده ها قسم لباس و دیزاین اماده گردیده در تحویل خانه یی که امکان سالم ماندن آنها کمتر است ، نگهداری می شود.

پرسش - برای بهتر شدن کیفیت کار چه نظر دارید؟

پاسخ - اشخاص مجرب و دانسته را به کارگماریدن واز فکر و اندیشه ظریفانهء آنها استفاده کردن ضروری است. تشکر و جهان سپاس از شما.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلټنې برخه



# کتاب او فرهنګ

انور وفا «سمندر»

## خیال:

«هرڅوک هومره حقیقت ترلاسه کوي، او مومي، چې د لاسته راوړلو له پاره يې ځان چمتو کړی وي. د فرد له ظرفيت څخه زيات څه د هغه د ذهن له کنډولي څاڅي او وينځل کيږي» هارولد کلمپ

خيال د انسان د پوهې د الوت بې پولو قلمرو دی. خيال د هستۍ له پولو اوړي، نيستۍ تجربه کوي، او انسان د زمان او مکان له منګولو ازادوي. خيال د فردي ازادۍ اصلي ډګر دی. په خيال کې نه ليدلې ايتوپيا تجربه کولای شو. د واقعيت ټول فصل له خيال څخه راوتي. فرد پرته له خيال هيڅ نه لري. په خيال کې د شعور او پوهې ټولې پولې، ديوالونه، د اور سيندونه، او لوړې ژورې شکل او خاصيت له لاسه ورکوي. په خيال کې موږ هيڅ پوله نشي تم کولای. زه يم خو خيال مې له ماشومتوبه ويده کړی. ما به چې خوبونه موندل مور به وياليي ته ليږلم. او وياليي به يوازې شوږسسس...کاوه. له هغې وروسته يې ښوونځي ته ولېږلم، مکتبي شوم! او کتاب مې مسلک شو. کتابونه مې ولوستل او وليکل خو ځان مې پوره ونه ليده. خپل کتابتون مې په کتابونو ډک دی. رسنۍ هره ورځ نوي او نوي کتابونه معرفي کوي.

کتابونه او دا فرهنګ چې څومره غواړې شته او لا ډېر دی! خو زه بې ليک. څه شي ليکم چې له ليک او تورو بهر پاتې کيږي.

ښايي دا کومه بې شکله هندسه وي، ښايي زه د کوم بې شکله کلام په راژباړلو اخته وم! ښايي خواب په خپل خيال کې وموم.

دا هغه يوازينۍ شيبه ده چې خيال پيلولای شم.

نن موږ له دې ننګونې سره مخ يو چې څرنګه خپله کمې پرمختيا په کيفي څوا ک واړو.

موږ په خپل کمي ظرفيت(اجازه راکړئ چې، ذهني حسي، عاطفي...په کمي ظرفيت يادې کړم)کيفي ظرفيت ته څه ډول لاره ورکـــــړو، ښايي خيـــــال!

«په نـــــړۍ کې يوازې يو شی شته، خيال! حقيقت په تينګه توګه په شعور پورې تړلی دی، نه په بهرنيو پېښو پورې.

بشر په هغه څه اوړي چې تصور کولای يې شي!

په واقعيت کې د ځمکې ستوری د يوه ژوندي موجود په څېر خوري، څښي او ساه را کاږي.

موږ په يوه داسې نړۍ کې ژوند کو چې تر ټولو لويه برخه يې حتا موږ ته د تصور وړ نه ده!

موږ يوازې په سلو کې يوه برخه وينو. د خيال ډېوه به ولګو، ځکه چې په سلو کې ۹۹ ټاره هستۍ کې ژوند کوو!»

موږ ادبي تاريخ لرو، موږ عرفان او معنويت لرو، شمس او رحمان بابا لرو. او هغوی ژوندي وينا لا اوس هم موږ ته د خيال کوڅې روښانوي.

«وينا له ځان سره کولای شم، يا هغه چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـــــره چې ځان په کې ووينم، وينا کوم»شمس

تمدنونه راټوکيږي، ځوانيږي، زړيږي، مري او انسان لا ځان ليکي.

نو د ا د کتابونو فصل دې مبارک وي چې خو لا مو-هسپي چې اړتيا ورته لرو-د خيال فانوس نه دی رڼا کړی!

انسان فــرهنګي موجود دی. انسان ژبور دی. انسان تمدن پنځوي. انسان ځمکه، ژوي، سيندونه، سمندرونه، ستوري، سپوږمۍ، ايل کوي. انسان پر هرڅه د خپلې فتحې بيرغ ودروي. انسان تمدني فاتح دی، خو زموږ برى، زموږ پرمختګ، زموږ د ستورو او سمندرونو جګړه، زموږ له خوا د فضا کلابندول څومره موږ ته سوله، ډاډ، امن، او فطري لذت را کوي؟

انسان د ځمکې پر لويشت لويشت فصلونو، غرونو، سيندونو، ځنګلونو، او د ځمکې له پاسه يا دننه بالفعله او بالقوه شتمنيو خپل نوم ليکلی. همدا زموږ بشري فرهنګ دی، خو لا په سلو کې ۹۹تياره واقعيت په مخ کې دی. موږ يوازې د نړۍ يوه سلمه ليدلې! په دې ۹۹سلنه تياره کې به زموږ بشري علوم څومره قد باسي؟!

له حواسو د خيال په لور کډه کول:

بيا د يادولو وړ ده چې موږ په يوه داسې نړۍ کې ژوند کو چې تر ټولو لويه برخه يې حتا موږ ته د تصور وړ نه دی.»

بشر خپلې فزيکي وينې را ايسار کړې. بشر يوازې د سترګو، غوږو، خولې او نورو ښکاره حواسو له لارې پوهه او خبرتيا مني. نننى انسان هغه څه مني چې په سترګو او نورو حواسو کې يې ځايږي. انسان خپل لرغوني خوب ورک کړی. انسان خوب خيال ګڼي، خيال پوچ خرافات او چې ډير يې خوبونه او خيالونه په غيږ کې کيښکاږي، نو روانشناس ډاکټر ته ورځي او ځان په مخدرو داروګانو د خوبونو او خيالونو له بې‌شکله او بې‌حجمه هندسو راوباسي.

زموږ تمدن يو مادي تمدن دی. فرهنګ مو هم مادي-ذهني دی. او له همدې هندسي چاپيرياله پرته بل ربنتيا نه وينو. موږ ځانونه نيم پرانيستلي. موږ خپله نيمه برخه ژوند کو. موږ نيم ژوندي يو. شپه، خيال، خوب د خوبونو تجربې نه منو او ځکه ژوند نيم په نيمه بايلو. بشر يعني هغه ژوندي چې خپل نيم ژوند کوي!

## Anti material ضد ماده يا

موږ د معلوماتي پوهو په ديوالونو کې پټ شوي يو، خو هنداري هره ورځ زموږ څيرې زړې، سپيرې او مرګ ته نيږدې را پيژني. راشئ وګورو ددې مادي-تمدني دبدبې ها خوا څه شته؟

نوی فزيک د مادې په وړاندې د ضد مادې نظريه را پورته کوي. په مادي اتومونو کې هغه الکترون چې ماده يې رامينځ ته کړې او د هستې پرخواوشا را څرخي، منفي بار لري. او د هغه اتوم په هسته کې چې له پروتون او نيوترون تشکيل شوی، پروتون مثبت بار لري.

خو په ضد ماده کې حالت ددې پر خلاف دی. يعني په ضد ماده کې د الکترون بار مثبت دی چې هغه پوزيترون نوموي. او د پروتون بار بيا د مادې پرخلاف دلته منفي دی.

د فزيک د پوهانو د نظريو له مخې که چيرې د مادې د يوې ذرې له يوې ذرې ضدي مادې سره ټکر پيښ شي، ډيره ستره چاودنه به رامينځ ته شي. چې ټوله هستي به په نيستي واړوي.

ځکه نو موږ په ۹۹سلنه تياره کې لاره وهو! د فزيک د علم له مخې د ضد مادې په جهانونو کې قوانين په بشپړه توګه د مادي نړۍ پرخلاف عمل کوي.يعني که هلته يو څه ټيل وهې د وړاندې تګ پرځاى په شا را ځي. يا که يو څه غورځوې هغه پورته خيژي.

همغسې چې يو فرد زوکړه کوي، لويږي، ځوانيږي، زړيږي او مري! تمدنونه، فرهنګونه، څيزونه او ځمکه او نور ستوري هم زوکړه، ځواني، زړښت او رژيدل او ورکيدل لري. موږ په يوه ژوندۍ نړۍ کې اوسو.

**د فرهنګ سرچينه:**

د ځمکې پرمخ ټول بدلــــــــونونه هغه

پاتې ۴۴

جاوید فرهاد

# جغرافیای یک غزل



**بازخوانی چند رویکرد در اندیشهء مولانا**

بازخوانی چند رویکرد را در جغرافیای یک غزل "مولانا" با خوانش خود غزل، آغاز میکنیم:

«بی همگان بسر شود، بی تو بسر نمی شود
داغ تو دارد این دلم، جای دگر نمی شود
دیدهء عقل مست تو، چرخهء چرخ پست تو
گوش طرب به دست تو، بی تو بسر نمی شود
جان ز تو جوش می کند، دل ز تو نوش می کند
عقل خروش می کند، بی تو بسر نمی شود
خمر من و خمار من، باغ من و بهار من
خواب من و قرار من، بی تو بسر نمی شود
جاه و جلال من تویی، ملکت و مال من تویی
آب زلال من تویی، بی تو بسر نمی شود
گاه سوی وفا روی، گاه سوی جفا روی
آن منی کجا روی، بی تو بسر نمی شود
دل بنهد بسر کنی، تو به کنند بشکنی
این همه خود تو می کنی، بی تو بسر نمی شود
بی تو اگر بسر شدی، زیر جهان زبر شدی
باغ ارم سقر شدی، بی تو بسر نمی شود
گر تو سری قدم شوم، ور تو کفی علم شوم
ور بروی عدم شوم، بی تو بسر نمی شود
خواب مرا ببسته ای ، نقش مرا بشسته ای
وز همه ام گسسته ای ، بی تو بسر نمی شود
گر تو نباشی یار من، گشت خراب کار من
مونس و غمگسار من، بی تو بسر نمی شود
بی تو نه زنده گی خوشم بی تو نه مرده گی خوشم
سر ز غم تو چون کشم، بی تو بسر نمی شود
هر چه بگویم ای سند، نیست جدا ز نیک و بد
هم تو بگو به لطف خود، بی تو بسر نمی شود»

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هنجار شکنی در شعر:**

یکی از ویــــژه گی های مهم در شعر مولانا، «هنجار شکنی هنجار مند» از قاعـــده های متعارف و شکستانــــدن مرز های دست و پاگیر است. عامل مهم این هنجار شـــکنی (سنت شکنی در شعر) سیلان اندیشهء مواج و جـــوشان در ذهن مولاناست.

مــــولانا به دلیل داشتن اندیشهء باز وگسترهء فکــــری وسیع، قواعد سنتی قافیه و افاعیل عــــروضی را ، ظرف دارای ظرفیت کاربردی برای ریختن اندیشه نمی داند و به همین منظـــور ، اشارهء ژرفی به این مسأله دارد:

«رستم ازین بیت و غـــــزل، ای شه وسلطان ازل

مفتعلن مفتعلن ، مفتعلن کشت مـــــرا

قافیه و مغلطه را ، گو همه سیلاب ببـر

**پوست بود، پوست بود، در خـور مغز شعرا»**

و یا:

«قافیه اندیشم و دلدار من

گویدم مندیش جز دیدار من»

با استناد بر همین پنـــــداشت است که مـــــولانا، در پاره یی از موارد - با تعمد- میخــــواهد زولانه های دست و پاگیر قافیه را در یک غـــــزل دارای چارچوب هنجارمند بشکند و عنصر موسیقایی را در «ســــرشت کـلام» گسترش بدهد.

ویژه گی دیگـــــر مولانا، تکیه بر ذات مـــوسیقی درونی واژه ها و افادهء بار معنایی آنها دربافت زبان است. مثلاً در بیت دوم غزل بالا ، واژه های « مست و پست و دست» و در بیت ســوم واژه های «جوش و نوش و خروش» - افزون بر هم جنس بودن آوایی شان - تناسب موسیقایی عجیبی را در شعر- ایجاد می کنند . این روش به عنوان برجسته ترین رویکرد در شعر مولانا - و در بسیاری از غزلیات دیوان کبیر- قابل رویت است.

عنصر موسیقی در غزل های مولانا ، مولود «جذبه و سماع» عارفانه است؛ گاهی بار این موسیقیت به حدی سیلانیست که در غزل مشهور «بی همگان بسر شود..» با وصف هنجار شکنی مولانا از کاربرد قافیه های متعدد در سراپای یک غزل، «ردیف» جای قافیه را پر می کند و شاعر سر مست از جام اندیشه، غزل را با ردیف پی میگیرد و خلاء قافیه را با هم آوایی و آهنگین بودن و اژه ها پر میکند:

بی همگان بسر شود، بی تو بسر نمی شود

*** داغ تو دارد این دلم، جای دگـــر نمی شود**

**دیدهء عقل مست تو، چرخهء چرخ پست تـو**

*** گوش طرب به دست تو، بی تو بسر نمی شـــود**

**جان ز تـــو جوش می کند، دل ز تو نوش می کند**

*** عقل خروش می کند، بی تو بسر نمی شود**

با آنـــــکه در بیت نخست واژه هـــای «بسر» و «دگر» قافیه اند؛ اما با توجه به اصل رعایت مسألهء قافیه در چارچوب یک غزل، بیت های دیگر، قافیه ندارند و صـــــــرف به کاربرد ردیف« بی تو بسر نمی شود» بسنده شده است .

**کاربرد واژه های هم معنا:**

واژه های هم معنا در این غـــزل مولانا (و در بسیاری از غزلهای دیگرش) و جناس های واژگانی در ســــراپای این غزل، خود را می نمایانند مانند: به کارگیری واژه های «جاه و جلال» و «ملـــکت و مال» در بیت پنجـــم و «مونس و غمگسار» در بیت دهم.

به کارگیـــری پارادوکس های ( تناقض نمایی) لفظی:

پارادوکس Paradox ( تناقض نمایی) در لغت ، به مفهوم موضــــوعی است « که در ظاهر ناسازگار و مخالف عقل سلیم است، بی آن که الــــــزاماً غلط باشد.»درتعبیر دیگـــــــر: پارادوکس عبارت است از آوردن "مفهوم تناقض نمایی که در آغاز درست به نظـــــر می آید."

مولانا با توجه به میزان اثر گذاری اندیشه اش در بسیاری از موارد، از روش ایجاد پارادوکس های لفظی و معنوی استفاده نموده است.

غزل مشهور بی همگان بسر شود...» از شمار آن غزلهایی است که شاعر در برخی از موارد، از این روش هنری در کاربرد «کلمه و کلام» - به فراوانی – کار گرفته است. به گونهء مثال استفاده از واژه های «وفا» و «جفا»

**بقیه ٥٤**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غږ څپه



**انور وفاسمندر**

**شعر په یوه مانا ریتم دی، آهنګ دی، هارموني دی، او شعر انډول دی.**

که موږ د وني په پاڼو د باد د څپو اوریدلو ته کښینو، نو هغه هم یو شعر را اوروي. خو بي مانا!

که چیری د مرغه ناري واورو، نو بیا د شعر ځانله کالب اورو خو بي مانا.

ډیر غږونه دي چي ریتم او اهنګ لري، خو مانا نلري یا موږ يي په مانا نه پوهیږو یا موږ تر اوسه نه دي مانا کړي، نو هستي ټوله شاعرانه شوه او زموږ غوږونه بیسواده!

موږ د ماناوالي ژبي شعر اورو، زده کوو او شعر بیا لیکو، خو څه وخت به د باد او سیند، توپان او باران، لمر او سپوږمی د غږونو شعر په یوه نوي ټولګه کي انځورو؟

هی هی، د طبیعت هر غږی ژوندی شعر دی. باد شعر دی او توپان ژوندی شعر دی. پسرلني نیاګی او د ورانو زیارتونو وچي وني شعرونه دي. غر او په غره کي ویده ماران او د ګوربت ځالي شعرونه دي. دنیا د شعر له جنس څخه جوړه ده او زه له کتاب پرته شعر نه لرم.

***

خمکه د اروا ښوونځی دی. اروا ددې لپاره د بدن جامه اغوستي، چي د خدای ویښ او اګاه همکار او خدمتګار شي؛ بدن د اروا موقت کور دی. اروا شپه او ورځ د خپل کور په لور ګوري. د اروا کور په نور او صوت کي دی.

موږ د عمر په دام کي د زوکړي، ځواني او زړښت له ستوني تیریږو او دا خپل سرنوشت ګڼو، خو اروا تلپاتی دی. اروا د حال په زمان کي دی، او د خدای زمان دی. اروا د کالبوت په خاورین کور کي خوب وړي او داسي ګڼي چي ذهن ډیر هوښیار او غمخور سلطان دی.

اروا به د غږ او رڼا د جام په څښلو سره راویښیږي او د ذهن پاچاهي به پرځان پای ته رسوي. اروا د غږ په سپوږمکی کي خپل ورک وطن ته ستنږي.

***

موږ هغه څه یو چي باید واوسو. موږ پخپل دقیق موقعیت او شرایطو کي یو. روح ددی لپاره د کالبوت په خاورین کور کي دیره شوی چي د ازادۍ عشق او حکمت په لاره کي خپلي زده کړي بشپړي کړي، نو ټول هغه څه یو چي باید واوسو. آه موږ هرڅه لرو، موږ ټول اړتیا وړ څه لرو؛ نور او غږ د روح غذا ده. شکر خدایا پردي شیبه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

شپه پخه ده. زموږ فزيکي غږي هم ورو ورو ارام کوي. دغو غږو کړی ورځ خپلې چارې ښې سرته رسولي، او اوس ارامی او چوپتيا ته ليواله دي. د لاسو، پښو له ارام پاتې کيدلو سره سترګې او غوږونه هم ارام کوي، ذهن هم ويديږي، خاطرې او انګيرنې هم هيريږي؛ خو په دې لوی سکون کې د موږ دننه نور حواس راويښيږي. موږ د بلې سترګې له لارې نه پيژندلی خمکې او هستې ګورو. موږ بدن نلرو خو ګورو. پښې نلرو، خوګرځو. خوله او ژبه او غاښونه نلرو خو غږيږو. غوږونه نلرو، خو اورو. موږ هيڅ څرګند حسي غړي نلرو، خو هرڅه حس کو، ښا ګلان، رنګونه ښکلاوي، او ددغه جنت ټوله تجربه وړيا ده او دا زموږ لپاره الهی ميلمستيا ده، نو زه هم تاسو او ځان پريږدم چې د خيال په سترګه د اسمانونو په ميلمستيا ووځي.

***

موږ د غږ سندربول يو. موږ د غږ روباب او شپيلی ، ويلون او سرنده ياستو. موږ خپل اصل غږوو.

غږ زموږ اصل دی. غږ په موږ کې بهيږي. د موږ زړه پر هغه زاړه او لرغوني شاعر ډک دی. شاعر زموږ د زړه دنيا په خپله مينه خوخوي، او موږ مينه کوو، ځکه چې پرته له مينې هيڅ شی وجود نلري. ټول غږونه مو د مينې لپاره دي. نومونه مو د مينې په لور پلونه دي. موږ په مين کلام سره د مينې کيهان ته ور درومو.

***

غږ عاشق دی. غږ عشق دی. هر غږ په معشوق پسې يوه ورکه چيغه ده.

موږ غږيږو، ځکه د عشق په کور پسې لاره نيسو. غږونه زموږ پلونه او ګامونه دي د هغه سپين يار په لور.

موږ په غږ کې بيرته کور ته ستنيږو. غږ دکور لاره پيژني، او دادی بيا هم پل پورته کوو.

***

موږ بې له دې چې پوه شو، د غږ په لور لاره وهو. موږ د غږ په وزرو سپاره يو. غږ زموږ کور دی. غږ زموږ جنس دی. غږ موږ راوړي او پرايښی يو، او دادی په غږ کې لاره وهو.

پر موږ د مينې غږ شوی. پر موږ د مينې غږ راځي او موږ د مينې غږ چاپيره کړي يو. موږ ځو، د خوب پر وزرو الوزو، خپل سپين کور ته ستنيږو.

اه کور خو همدلته دی. کور خو زړه دی. شاعر هم زړه دی. مينه هم د شاعر او زړه ګډه سندره ده. راځئ غوږ شو، خپل زړه ته غوږ شو. د زړه شاعره وايه زه نور نه غږيږم، زه نور نه غږيږم.

***

ژوند او چارې مو هغسې چې الله يې غواړي. او موږ هرڅه الله ته سپارلي، هرڅه د الله دي. موږ ژوند لرو، کورنی لرو، چاپيريال او هيواد لرو او ريښتينی دا چې خدای لرو.

خدای دا ټوله هستي جوړه کړې او دا لوی ډګر زموږ ښوونځی دی. موږ ددې پوښتنې ځواب پيداکوو چې ژوند د څه لپاره دی؟ له اسمانونو ځخه د روح ليږي کيدل او په ماده او مکان او زمان کې ميشته کيدل د څه لپاره دي؟ او يوازې همدا شيبه يې وخت دی چې تر ټول ستره زده کړه وکړو.

هو که هرڅه د خدای په نامه، د خدای لپاره او د خالصانه مينې له مخې سرته ورسو، نو د ژوند لويه روژه به مو نيولې وي. ذهن ترکنترول لاندې ولره او ټول پام د خدای پر حضور راټول کړه، د هستی د مکتب بيرنی فصل همدا دی.

***

روژه او ذهن پاك ساتل زموږ په زړونو کې د مينې رودونه راويښوي. موږ روژه پرځان، پرخپلو حواسو او پر خپل ذهن جوړه کوو چې د زړه کور اباد کړو. موږ سپين زړه د دنيا تر ټولو خوراکونو او ميوو او شهوتونو لوړ ګڼو. موږ د دنيا دکور ترځنګ د زړه کور جوړو. زموږ ټوله ښکلا په زړه کې پټه ده. ايا کله زړه ته ورغلي يو؟ موږ چې د ذهن او حواسو روژه نيسو، نو د د غږ او رڼا سمندر دننه غيږه را ته خلاصوي او موږ پر موږ د نور او کلام خوراك کوي.

***

د مادي شپې د چوپ اقليم په دننه کې زموږ د غږ او صوت کاروان تردې شيبې له تاسو سره د ابديت په لور لاره ونيوه. موږ غږ راوړي او غږ مو مخکښ دی. غږ مو تکلوری دی. غږ موږ وربولي. موږ د غږ په پلو او زينو د ورک کور لاره نيسو.موږ ځو، ټول خو. دادی اروا ستر کاروان دی. موږ هغې خوا ته ځو چې د مينې او بقا کور مو دی. موږ د مينې په لور منزل وهو.

ايا دغه غږونه چې موږ يې کاروو؛ دومره ښايسته دي چې د مينې هيواد ته پښه کيږدي؟ اه هێنه، مينه يوازنی کلمه ده چې د کور وږ به پيداکړي.

هو موږ مينې پيداکړي يو. مينه مو بقا ده. مينه ده چې پايو. موږ مينه يو؛ پيدا مو کړه؛ موږ ټول د مينې له جنس څخه يو. برکت دی وي پر دې پيژندنې! بس لويه خبره همدا وه، غوږ به شو چې زموږ په تل کې ويده مينه څه سرودونه را ته غږوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library




**صحبت اختصاصي با وحيد قاسمی**

# آوازخوان و آهنگساز کشور

چنانکه خواننده گان ارجمند اطلاع دارند، وحید قاسمی، از سه دهه بدینسو به حیث هنرمند مستعد ، در بخش آوازخوانی و آهنگ سازی در کشور عزیز ما افغانستان مطرح است. تلاشها و کارکرد های هنری ایشان تا اکنون نشان داده که وی یک آواز خوان ساده‌ء آماتور نیست، بلکه توانسته است از داشته ها و میراث های علمی و هنری پدر کلان خویش ( استاد قاسم افغان ) در راه تکامل هنر موسیقی سرزمین ما بهره گیـــــرد . قاسمی در سال های اخیر، سفر هایی به افغانستان داشته و افزون بر برگزاری کنسرت های دلچسب در کابل و ولایات کشور، به مطالعه و تحقیق مزید پیرامون موسیقی محلی نیز پرداخته که خوشبختانه تا حال دستاَورد هایی هم داشته است .

اینک ما، با ایشان گفتگوی ویــــــــژه یی داریم که پیشکش می شود:

پرسش : وحید قاسمی ! به اجازه ی شما، از مقدمه گویی در اینجا می گذریم و خواهش می کنم در مورد کار کرد های هنری تان واین که چه زمانی همکاری های تان را با رادیو و تلویزیون افغانستان آغاز کردید، برای خواننده گان ارجمند اندکی معلوما ت ارایه نمایید ؟

پاسخ: در سال ۱۳۵٦ هجری، با تشکیل گروه موسیقی به نام « شاین» که با همکاری دوستانی به نام های عبدالله قاسمی، قاسم قاسمی و توریالی نواز در کابل صورت گرفت، کار را با اجرای موسیقی ( پاپ ) و به کار برد آلات موسیقی غربی و رعایت استندرد موسیقی غرب آغازکردیم که از همان طریق، آهنگهای وطنی و خارجی و نیز آهنگ هایی که از ساخته های خود م بود تقدیم علاقه مندان می نمودیم . چنانکه برای مدت دونیم سال، یک سلسله کنسرت ها را در دانشگاه کابل، لیسه ها، سینما پارک، سینما زینب، گویته انستیتوت، سفارتخانه های مقیم درکابل وبرخی از محافل خصوصی و عمومی اجرا نمودیم . خوشبختانه شیوه‌ءکار هنری ما درآن سال ها، مورد استقبال مردم و به خصوص نسل جوان کشور قرار گرفت . چنانکه هنرمندان جوانی که بعد ازآن شروع به کار کردند، ازهمین شیوه پیروی نمودند که به تشکیل گروه هایی مانند: گروه باران ، گروه گل سرخ و غیره منتهی شد ؛ و اما، همکاری من با رادیو،تلویزیون افغانستان، با نواختن گیتار و همراهی گروه آماتور رادیو تلویزیون در سال ۱۳۵۷آغاز شد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرسش : اعضای این گروه کی ها بودند ؟

پاسخ : اعضای گروه آماتور رادیو تلویزیون درآن سال عبارت بودند از ببرک وسا، مسحور جمال، فواد طاهری، خلیل صمیمی، عبدالله اعتمادی، چترام، عمر شکیب و اینجانب .

پرسش: میتوانید نام بعضی از آهنگ هایی را متذکر شوید که درآن سال ها به ثبت و نشر رسانیدید؟

پاسخ : البته کار گروه متذکره تقریبا" دو سال دوام داشت و اگرچه طی این مدت کار های هنری زیادی صورت گرفت، ولی ازان جمله، چند تایی که به یاد م مانده مثلا، " ته زما یار نشی " به آواز رحیم غمزده، " باده ها خالیست خالی" به آواز احمد ظاهر، " تو عمر دو باره " به آواز امیرجان صبوری، " من قصه ی دل گویم " با آواز وحید قاسمی و عمر شکیب، ترانه ی کودکان به نام " آسمان رنگ تو است قشنگ " وغیره بود .

پرسش: لطفا" در مورد تحصیلات رسمی و آموزش های هنری تان بگویید ؟

پاسخ : تحصیلات رسمی را در دانشگاه کابل و در بخش زبان ادبیات دری در سال ۱۳٦۵ هجری به پایان رسا نیدم و اساسات موسیقی شرقی را از کاکایم استاد یعقوب قاسمی و پدرم یوسف قاسمی آموختم . ولي ابتدایی ترین آموزشها پیرامون موسیقی غربی را از استاد «سر مست» و تیوری موسیقی غربی، اساسات آرمونی و اکورد را از ببرک وسا فرا گرفتم.

پرسش : تا اکنون چه تعداد آهنگ ها در آرشیف رادیو و تلویزیون کشور دارید ؟

پاسخ : حدود چهل آهنگ در رادیو و بیست آهنگ تصویری در آرشیف تلویزیون دارم .

پرسش: باوجود آنکه آواز خوانی و آهنگ سازی باهم تداخل بنیادی دارند، ولی در عین زمان دو بخش جداگانه از کار کرد های هنری اند، یعنی یک آواز خوان نمی تواند در عین زمان آهنگ ساز هم باشد، در حالیکه شما باوجود این که آواز می خوانید، آهنگ ساز مستعد هم هستید ، پس ممکن است بگویید که کارآهنگ سازی را چه زمانی آغاز کردید ؟

پاسخ: اولین آهنگ را درسال ۱۳۵۷ساختم که مطلع شعرآن چنین بود : " دل را به ناز از کفم آن لاله روگرفت " وشاعرش آقای « نوید » است. این آهنگ در همان سال به ستدیو های رادیو افغانستان به ثبت رسید وآواز خوانان به سبک کارم علاقه مندی نشان دادندوبه ساختن آهنگ برای آنان ادامه دادم . چنانکه پسان ها آهنگ های دیگری برای «محبوب الله محبوب» به مطلع زیر ساختم : " بسته جان نا توانم را به مویی " که شعر از نعیم میر زاد است . آهنگ " اشکم ولی به پای عزیزان چکیده ام " که شعرازرهی معیری است و توسط خانم سلما خوانده شده نیز از ساخته های من می باشد، چنانکه همین اکنون، یک بخش عمده ی کار هایم را آهنگ سازی تشکیل میدهد .

پرسش: کتابی را به نام " قوقو برگ چنار " که توأم با یک حلقه سی دی بود ه و مشمول شماری از ترانه ها ی زیبای کودکا ن افغان است، مطالعه کرده م و سی دی آنرا هم شنیدم که بیانگر کار مشترک شماو دوستا ن دیگر بود . می خواهم بپرسم که آیا شما پیشینه‌ءکاری با کودکان و آشنایی به ادبیات و موسیقی خاص آنها داشتید ؟

پاسخ : من در سال های ۱۳٦۰ هجری، برای مدت چهار سال معلم موسیقی در کودکستان شمله و شیر پور بودم که تجارب خوبی ازآن دوران به دست آوردم . در مورد کتاب و سی دی که شما ازآن یاد کردید، باید بگویم که درسال ۱۹٦۷ میلادی کتاب حاوی ترانه های کودکان به همکاری وزارت اطلاعات و فرهنگ و خانم «لویس پاسکال» امریکایی نژاد به چاپ رسیده بود. مگر متاسفانه این کتاب به مرور زمان از دسترس خارج شده جز اوراقی چند، آنهم کهنه و فرسوده چیزی ازآن باقی نمانده بود . بنابرآن، خانم لورین سکاتا پژوهشگر امور موسیقی شمال افغانستان، مرا به خانم پاسکال معرفی نمود و پس ازآن من و خانم پاسکال تصمیم گرفتیم با پشتیبانی انجمن آینده و جغرافیای بین المللی ، این مجموعه ی ترانه ها را مجددا" گرد آوری نماییم که به همکاری گروهی از کودکان افغان مقیم شهر تورنتو و تعدادی چند از کودکان مقیم امریکا و حمایت والدین آنان به کار آغاز کردیم . از متن اصلی کتاب، هشت ترانه را باز سازی نمودیم که چهار آهنگ آن از ساخته های استاد غلام حسین و چهار دیگر آن از ترانه های کودک بود . باید افزود که چهار ترانه ی دیگر شامل این کتاب، عبارت از دیالوگ های کوتاه کودک است که در زبان

بقیه ۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آلتین غونډۍ طلاتپه



پوهاند رزاقی نریوال

لکه چې څرګنده ده زموږ دګران هیواد لرغونی ګران بیه آثارچې څوکاله دمخه د ننداري لپاره اروپایي هیوادونو اوامریکا ته وړل شوی ، اوس یي ننداري په امریکاکې هم پای ته رسیدونکی دی نو څه رنګه چې دا اثار له التین تپې څخه تر لاسه شوي وي لازمه لیدل کیږی چې په دې اړه یو څه معلومات وړاندې شي:

دالتین کلمي ته په از بیکی ژبه سره زر (طلا) ویل کیږي او آلتین تپه په مجموع کې د سروزرو غونډۍ یا طلا تپه یادیږي ، داچې دا تپه په جوزجان کې موقعیت لري نو هلته وزته ځینی آلتین غونډی او ځینی ورته طلا تپه وایي . او داچې ولی په طلاتپه او یا التین تپې شهرت پیدا کړی دی علت یی دادی چې ددې غونډۍ د ځینو بر خو د ویجاړ توب او دزماني په تیریدلو سره د لرغونی زماني د طلایي فرا ګمنتو نو (ټوټو ) د زیات شمیروکشفیدلو له کبله پرې ددی سیمي خلک دې ته و ګمارل چې د طلا تپې نوم پرې کیږدي .

آلتین غونډی د شبرغان (اسه پورګان) جوزجان یا شبرګان په پنځه کیلو متری کې د مزار شریف دلویی لاری په ګینه خواکې پرته ده .

دا غونډۍ د یوې بلې غونډۍ چې ایمیشی تپه ورته ویل کیږی په دوه متری کی پرته ده په ۱۹۷۸ افغانی او شوروی لرغون پیژندونکي په دې بریالی شول چې هلته د سیمه ایزو حکمرانانو ،پاچهانو او شهزادګانو شپږمهم قبرونه را برسیره کړی له نوموړی قبرونو څخه ۲۱۶۱۸ ټوټی طلا ،نقره ایز او برونزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثار له یـــو شمیـــر رومی ، پارتي او هنـــري سکو ســره یو ځای لاس ته راغلل.
طلاتپه دساختماني سبک او پـلان د تـرلاسه شوو آثار و له مخی د منځني آسیا جنــــوبي آثارو سره ورته والی لـــــري . دایمشیک (ایمشی) په غـونډی کې په ۱۹۶۹ م دو باره کنیدني یی پیل شـــولي ، ددې غونډې لــــومرنی سطح له پورته څخه د لاندې خـــــواته په کـــوشاني دوری پورې اړه لري ددې تپې په سیمه کې نورې تپې هـــم شتـــــــــه دی چي دهغي سیمي داوسیدونکو له خـــوا په بیلا بیلو نومونو یادې شـــوې او دهغو په پای کې د شبرغان د ګاز د جـــر قدق څانګه پرته ده چې شاوخـــوا کـــــــــــروندي او ساختمانــــــونه یې د جګـــړو او پـــو ځي عملیاتو په وجه ویجاړ او یا له منځه تلل دي .
په دې سربیـــره د التین تپې څخه څــــــه لیـــــرې یمچـــــک تپه( gemehik-Tepa) پرتـه ده او داهم هغه تپه ده چې دپـــوځی موضـــوګانو د کنیدلو په مهال یی زیاته بـرخه ویجاړه شوې ده .
د موجـــــوده سنـــــدونو په بنــاد بناماراتویا( Grie-fon ) سمبـول د طلا تپې په کشف شـــوو آثاررو کی شته دی . د چاقـــو او پیش قبضی په لاستـــوکي په برجسته ډول له سروزرو اچول شوی دي دهنـــــری جــــوړښت له پلـــوه دابنـــاماران چې لکی او سریي په متنـــاظر ډول دی په واقعیت کی دپاچا د هیبت او پـــــرتم انعکاس ورکـــــونکي دي وروسته تر هغی چې د تزئیناتـــو او جـــورښت له نظـــــره د طـــلا تپی په آثارو کي لیـــدل کیـــږي ، ددي ورته والی زیاتره څـــرګنده د ګنـــداهارا په دیکوراتیف( دیکوریشن ) په خـــر ګنده توګه لیدل کیـږی په تیره بیا د بنامار تبلـــــور د طـــلايي پاني برجستـــګی لکه طلایی تـــزئینات له دی جملي ورته کــــــــــــری ، غوږوالی په طـلايي کمـــر بند کی طــلایي تاپونو ورته والی لری.
طلا تپه زموږ د هیواد د لـــرغونو سرشارو فـــرهنګی شتمنیو یوه بی ساری بیلګه شمیرل کیــــــږی او دهغی یـــــو شمیر بی ساري او قیمتـــــداره آثار لــــه ۱۳۸۶ کال راهیسی د نړیـــوالی ننداری مورد کــــــرځیدلی دي چی همـــــداوس دامـــریکا د متحد ایالاتونو په ځینو ایالاتــوکی د نندارچاینو د پـــوره دلچسپی ،وړ آثار دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library






خوانندهء عزیز!
ممکن تا به حال کودکی را دیده باشید که به منظور تجسم فکری و ذهنی اش روی زمین درازکشیده و آدمک های زادهء تخیل یا اسباب بازی اش، جلوی چشم هایش را گرفته و با آن ها بازی را به اجرا بگیرد.

بنیان بصری فلم ها نیز برهمین منوال استوار است ، در واقع این کودک مانند فلمساز، با تجسم تصوراتش را تخمین زده قالب بندی کرده است .

«آندری بادن » منتقد فرانسوی در کتاب تأثیر گذار خود با عنوان « سینما چیست؟» برای توصیف این حس بینند گان فلم که خود را در همان موقعیت زمانی ، مکانی فلم روی پرده می بینند ،از اصطلاح (حضور)استفاده کرده است ، حضورچیزها و امور را به شکل که رخ می دهند ، منتقل می کند ، کیفیتی که نه نقاشی و نه عکاسی قادر به انتقال آن نیستند ، وقتی تابلوی نقاشی یا عکاسی را تماشا کنیم ، همواره با وجودسطح تصویر آگا هیم و هرگز از آن دور نمی شویم . اما هنگام تماشای فلم اتفاق دیگر می افتد، ما به جای تو جه به سطح تصویر به دورن فضای تصویر روی پرده ( اکران) می رویم فضایی که بسیار واقعی و سه بعدی می نماید.

همین گمانه زنی ، تخیل ، فکر کردن ، تجسم یابی ، و حضور ذهن برای مباحثه میان همفکران و دوستان که می خواهند ، ایجادگری نمایند ، اسباب مهیا کردن ، مرکز یانهادی را برای تصویرسازی به وجود میآورد . خیالات ، ایجاد مفکوره برای غنای هنر و فرهنگ ، هماهنگی برای پیشبرد ساختار های فلم در کشور ، میان حلقه ای از شایقین هنرسینمادربهارسال ۱۳۵٤ هـ ش ۱۹۷۵ جوانه زد و با تفاهم وحدت نظر،آقایان هریک : انجینرلطیف احمدی، مرحوم توریالی شفق ،عارف مراد،عمرصدیقی ،عبدالرحمان

(c) ketabton.com: The Digital Library







مراد، داکتر عبدالخالق قیـــوم و نذیر بهبود زاده که مسؤول نذیر فلم بـــودن ، موسسه فلمسازی آریا فلم را بنیاد گذاشتند و امتیاز را از وزارت اطـــلاعات وفرهنگ وقت به دست آوردند.

درآن زمان ،این موسسه بـــه خاطریکه بنیهء اقتصادی ضیف داشت ، نخست به ساختار های فلم های کـــوتاه اشتهاری، ازموسسات تجاری بطری آریا، بوت آهوو نوشابه کوکاکولا را منحیث فر آورده صنـــایع ملی کشور در دست تهیه وتولید گر فتند.

دیری نگذشت که بااین حلقه پر جهش ، عناصر فعال و بادرک دیگرهمچو فتح اله پرنـــد ، ایوب معصومی ،اکـــرم خـــرمی ، محمدجان گورن ، سمیع مونس ، بصیره خاطره، مینا شفق، نوریه ، هما ، خورشید،حمیده، توریپکی ، فقیـــر نبی ، عارف الدین ، معرفت شاه ، نصیـــر القاس ، نا صر عزیز ، صبور توفان ، ابراهم طغیان شاه محمود شارق ، شاه جهان و قادر فروخ ، قادر طاهری ، عبداله وطندوست که یک گروه کارباهمی وصمیمانه ، صادقانه جهت بر آوردن هدف دریک فضای خیلی توان مند ، موسسه را به ســوی آفرینش ، پرمحتوا به ســوی تصویرگیری میلان دادند وآثارمی از تـــولیدات موسسهء آریانا فلـــم در سیر سینمای افغانی نخستین فـــلم رنگی در نوار ۳۵ ملی متـــری فلم داستانی ( **سیاه موی و جلالی** )، مجسمه ها می خندند ، غلام عشق ، مـــزرعه سبز گناه، را باکار پیگـــرانه و دوستانه ، یکی ، پی دیگر با اعتماد و هماهنـــگی به قول انجینـــر لطیف احمدی مسؤول آریانا فلم ایجاد نمودند .

ما وحدت نظـــر ، نظر یات خود را باهم متحد می ساختیم ، بیگانه گی دورنگـــی میان ما رخنه نداشت ،خا صتا" فخـــر فروشی نداشتیم ، هرکدام درجمع بندي تدارکات ، تجهیـــزات تخنیکی انتخاب ســـوژه ، قدر دانی وارزش دهی از کوچکترین کار تابزرگترین کار برای اکمال اثر سعی مجدانه به خرچ داده و هر فلمی را که ما تهیه و تولید می نمودیم ، فکر می نمودیم که هر کدام ما درســـاختار آن سهم مســاویانه داریـــم . افتخار از نـــویسنده (فلمنامه نویس ) کار گـــردان اثر تهیه کننده ، ( مدیر تولید)، فلمبردار هنر پیشه گان ، همـــه و همه دست به دست هم امور رابا مسوولیت پیش برده و به آفرینش اثر اقدام می نمودیم تا اثرروی اکران ( پرده) اقبال نمایش یابد و مردم از تماشای فلم لذت ببرند.

زیرا درآن زمان این چنین روش وهماهنگی که خود جوش بودند ویک حلقه ای که اندیشه را در رشتهء ( تصویروسینما) منعکس می نمودند، خیلي جالب وقابل درنگ است به پندارند با این که اگـــر هنر فلم وسینماگري با اندیشمندی ، تصویر گر فضیلت های انسانی و نمایشگـــراندیشه سالم اجتماعي با شد بدون شک ، این گام های استـــوار و این هنر بزرگترین و بهتـــرین هنرها بوده و همچون چـــراغی فرا راه آدمیان بـــرای اندیشنده گی ، جـــوینده گی و را هیابی است .

ادامه دارد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طنز نن او پرون ته ځغلنده نظر






**د هیواد د بیاوړي طنـــــز لیکونکي محمد عمر ننګیار ســــــره مرکه**

**پوښتنه:** په افغانستان کې د طنز د تاریخ په هکله څه وواياست.دغه ادبی ،هنری ژانر تر ننه پوري کوم پړاوونه یې وهلي دي؟

**ځواب:** دطنز ژانر چې په انګرېزي کې د Satire د لفظ سره معادل شمېرل کېږي په نړۍ او په ځانګړي تو ګه د افغانستان په ادبي هنري بهیر کې ځوان ژانر دی او په تېره بیا په پښتو ادب کې خامه خوله ماشوم ګڼل کېږي.د پښتو په شفاهي ادب کې په بېلابېلو فورمونو کې د ډېر پخوا نه طنزي ځړیکې لیدلی شو. د ساري په توګه وایي ډېر کلونه پخوا څو تنه د هېواد نباغلي پوهان او لیکوال په لغمان کې د استاد الفت صاحب مېلمانه ول.مازدیګر له کوټې نه ووتل څو د باندې د کوربه دکور شاوخوا د ښکلي شین طبیعت ننداره وکړي.مېلمنو هلته لیرې ولیدل دوه خره سره غاړه په غاړه شوي دي د مېلمنو نه یوه الفت صاحب ته مخه کړه اوورته یې وویل: :ګوره په خـــــــرو کې هم الفت شته.هغه وخندل او ځـــــواب یې ورکــــــړ:هو لـــــکه زه چې په تاســــــو کې یـــــم .

ویل کېږي چې په پښتو کې د طنز د بنسټ ډېره څوشحال خان ختک ایښي ده ،درحمان بابا دابیت هم د طنز ښه بېلګه ګڼل کېږي :

څه عادل پاچا پیدا شــــــو اورنګزیب د دین غمخــــــور
خپـــــل پلارتـــــــړي په عدل په فتوا وژني خپـــــل ورور

او وروسته استاد الفت په نِظم او نثر کې ډېر ښه طنزي آثار له ځانه پرې ایښي دي چې دالاندې بیت یې د ساري په توګه وړاندې کوم :

نن په یــــــــو پسې روان سبـــــــا پــــــــه بل پسې ځي
کـــــله په ړیـــــــــــري پسې ځي کـــــله اوربل پسې ځي

څو زما په یادښت د هجري شمسي په شپېتمو کلونو کې عبدالمنان ملګری میرزا حمیدی،کاتب پاځون،استاد طلاباز حبیب زی ،ډاکتر واحد نظري،محمود نظري او کله هم ما دپښتو ادب د معاصر بڼ په چمن کې دخپلې وسې پورې کار کړی دی چې په وطن کې دروان ناورین او دهغه ناوړه اغېزې د ادب او هنر په چاپېریال کې دغه ادبي ،هنري تګ لوری یې څه پخ کړی او څېنې وخت یې هم په ټپه ودرولی هم دی،ځکه په دې برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې نلرو .

**پوښتنه:** د طنز د اهمیت اړ اغېزې په هکله کومو ټکو ته زیاد ارزښت ورکوئ؟ولې لا تر اوسه پښتو طنز له سطحي څخه ډېر وړاندې نه دی تللی او لا هم په ژورنالیستیکي لومو کې لاس او پښې وهي؟





(c) ketabton.com: The Digital Library

**خواب**:طنز په کنایي غندنه او په رموز پوهونه ده یا دا چې طنز دبیان هغــه ډول دی چې خندا او ټوکې په جامه کې د نــوش ونیش تومنه ولري. د طنز دنده داده چې فردي او ټـــولنیز فسادونو او عیبونه د خلکو د پـــوهونې او خبرېدو له پاره په ښکلې هنري انځور د خپل اندازې څخه ستر وښایي او خپـــله د عاطفې څخه ډکه خبـــره دلوستونکي په ذهن کې دمنلو وړ وګرځي. په طنزي لیکنونو کې که چېرې نیشخند او ټوکې د ابتذال او اضمحاک پولې ته نه وي رسېدلې د طنـــز اغېزه بدای کوي.ځکه چې طنـــز یو ظریف هنر دی باید چې تل د بې خونده ټوکو،سپکو فکاهیو چې د هجو او هزل په بازارکې خریدار لـــــــري پاک اومنزه وي .

د طنز بل اساسي او جوړونکی عنصر خندا ده ځرنګه چې وایې خندا د ژوند مالګه ده نو ځکه خو په دغه ادبي ، هنري ژانر کې آګاهانه خندا یوه مالګینه او په زړه پوری خندا ده.په ځای او مناسبه خندا همهغسې چې د طنز د تومنې جوهر دی په هغه کې د ترخو حقایقو دبیان پیاوړی وسیله ده .

طنز لیکونکی خپل مقصد د ابهام په لفافه کې رندانه پېچي څو چې لاپسې اغېزمنه شي.طنز لیکونکی په ظاهره کې سړی خندوي چې دا خندا د زړه سوی له مخې ده که څه هم لوستونکی خپه کوي خو خندوي یې خو په اصل کې فکر کـــــولو ته یې اړ باسي .

د طنز ساحه هزل او هجوی ته ډېره پراخه ده ،طنز لیکونکی تر هزل لیکونکي ډېر لیری ویني او سوچ پــــــري کـــــوي .

هزل هغه شعر یا نثر دی چې چا باندې ناروا وایې یا هغې ټوکې دي چې داخلاق او ادب خلاف وي .

هجو بیا په لغت کې د چا دعیبونو غندونه ، ته وایې یا په نبغه د چا عیب او بد ویل دی.خو په لنډ ډول وبلې شــــــو چې طنز د دوستانو د روح خندول ، هزل د اورېدونکو خندول او هجو د بد کړو کوونکو له پاره سلاح ده طنز،هجو او هزل درې سره خندا لري خو د طنز خندا ترخه ده ځوک په چرت کې اچوي، د هزل خندا د ساعت تېرې خندا ده او د هجـــــو خندا بیا د کرکې او دښمــــــــــنی خنـــــــدا ده .

ددې تعریفاتو له مخې په ډاګه ښکاري چې طنز د فانتازیو او ډراماتیکو جوړښتونو په درلودلو سره قوي او ژور هنري انداز لري ځکه خو ددغې هنري ،ادبي فورم سم کارول ګران کار دی او د ګوتو په شمار لیکوالو ورته مخه اړولې ده چې ځوک لکه زه په سطح اوخـــــوک یې تل ته ورنږدې شوي دي.او نه یوازې په ژورنالیستیکي فورم کې بلکه په ډېرو نورو هنري ،ادبي قالبونو کې طنزي لیکنې کوي .

**پوښتنه**:لــــــومړنی طنز مو کله ولیکل او ولې دې ادبي ژانر ته مو مخه وکړه؟آیا د ادب په نورو برخو کې مو هم طبع آزمویلې ده او که نه،ما کله کله له تاسو څخه شعـــــــرونه هـــــم اورېدلي دي؟

**خواب** - مخکې له دې نه چې طنز لیکلو ته زړه غټ کړم ،کله چې دکابل پوهنتـــون د فلسفې او ټولنیزو علومو د پوهنځي محصل وم،د محصـــلینو د کلتـــــــوري پروګرامونو د جوړېدو د پاره د محصلینو یوه دولس کسیزه کمیټ جوړ شو ښاغلو استادانو هر یو جنید شریف او مرحوم شهید دکتور شجاعي یې پالنه کوله او ورسره جوخت دپالندوی ټولنې کې هم داسې یوه کلتوري کمیټه جوړه وه چې ما په دواړو کې ګډون درلود او هلته مې په لومړی ځل د ستېژ دپاره ډرامې لیکلې او په خپله مې هم د لوبغاړي په توګه په کې برخه اخیسته .

په هغو کلونو کې زموږ کلتوري کمیټې ډېرې ننداري جوړې کړې دا هنري ننداری نه یوازې دکابل پوهنتون په ادیتوریم کې بلکه د پارک سینما او زینب ننداری د سینما پر ستېژونو کې مو کابل ښاریانو ته وښودې او ان خبره مو ولایاتو ته هم ووته دساري په توګه زابل ،کنـــــــدهار او هلمند ولایتونو کې مــــــو خپلې هنري ننداري وښودې.ددغـــــو کمېټې تمثیلي پارچـــــو او ډرامــــــــو لاربښوونکي ګـــــــرامي استادان عـــــزیزالله هدف او استاد بیسد صاحب ول چې زموږ سره یې ډېرې خـــــواری ګاللی وی چې ورنه تل مشکور یو.په همدغه کلـــــونو کې یانې په کال ۱۳۵٦ هجــــــري شمسي کې دافغانستان راډیو دهنر او ادبیاتو څانګه اعلان خپور کړ چې دغه څانګې ته مینه وال وروسته د یوې آزموینې څخه مني زه او زما څو تنو ملګرو دغې آزموینې ته چمتو شو او په پای کې ۱۲۰ تنو څخه یوازې نږدې ١٤ تنه ترې بریالي راووتل چې په دغه بریالي ډله کې زه هم ښه برېښېدلی وم او هماغه وو چې د هنر او ادبیاتو د پښتو درام او دیالوګ په څانګه کې کار وروسته د ورځنیو زده کړو څخه پیل کـــــــړ .هلته د عبــــــدالمنان ملګـــــري،استاد ف.فضلي،کاتب پاڅون،استاد رفیق صادق،داوود فاراني او امین افغانپور سره له نږدې آشنا شوم او له هر یوه څخه مي په خپل وار څه څه زده کول،کال دوه مي په دغه څانګه کې تمثیل او وروسته له څه مودې مي تمثیلي پارچې ،راډیو ډرامونه، او د راډیو پرله پسې داستانونو سرببره کورنی ژوند،بزګر او کارګر خپرونو ته مي دیالوګونه هم لیکل،په همدغه کلونو کې مي دباندنیو لیکـــــوالو څېنې آثار په پښتو واړول او د راډیو ډرام او یا هم د راډیو پرله پسې داستان په توګه د وخت د راډیو څخه خپاره شول. همدا شان دشپیتمو کلونو په پیل کې مې کله چې دتلویزیون د

پاتی ٦٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شناسایی کارمندان موفق RTA

اداره‌ء مجله‌ء آواز برای ارج گذاری از خدمات کارمندان فعال و مستعد که همواره درپشت کمرهء تلویزیون و میکروفون رادیو محتواومواد برنامه را به نگارش درمی آورند، وآن را آماده‌ء پخش امواج نشراتی می سازند، شناسایی می نماید . معدود کسانی هستند که با آن آشنایی داشته و همه تصورمی نمایندکه مجری یا گوینده برنامه را تهیه نموده ، در صورتی که تهیه کننده گانی که برنامه هارابه صورت زیبا و سلیقه های مختلف را در نظر گرفته وباهمکاری انجینیران تخنیک دربخش ثبت آماده‌ء پخش می نمایند.

باید گفت که تهیه کننده گی یک هنر است و فن نیست هر کارهنری از زمانی شروع می شود که فرد ، آن کار هنری را تجربه کرده باشد. به اساس این گفته ، خانم مسعوده فروز احمدزی کارمند اداره‌ء هنر وادبیات رادیو از کودکی به شنیدن رادیو علاقه‌ء مفرط داشت وزمانی که شامل مکتب شد ازصنوف ۸،۷همکاری قلمی خویشرا با برنامه های رادیو افغانستان آغاز نمود .وپس از فراغت از لیسه‌ء آریانا در سال۱۳۶۶شامل کار رسمی در اداره‌ء هنر وادبیات رادیو افغانستان شد.

در آغاز کار آموزشی وعملی برنامه سازی را با تهیه کننده گان مجرب در تهیه و جمع آوری مطالب و ثبت آغاز کرد ، سپس به طور مستقلانه تهیه کننده ء برنامه‌ء « پیام صبحگاهان » و برنامه هایی چون : زمزمه های شب هنگام رادیو را به پیش می برد .خانم مسعوده ازپرودیوسران موفق و سابقه دار رادیو می باشد .موفقیت شان را دراین عرصه خواهانیم .





خانم محموده صایم کارگردان برنامه‌ء شب هنگام هنر وادبیات تلویزیون یکی از کارمندان با تجربه و سابقه داریست که تقریبا "۲۳ سال از زمان کارش در ساحه تلویزیون می گذرد.

خانم محموده در عرصه انتخاب موزیک متن وتصویر مصمم و پر تلاش است .

در ابتدا ، برنامه هایی چون : از هر چمن سمنی رادیو و اکنون برنامه‌ء شب هنگام تلویزیون و برخی برنامه های فوق العاده را به مناسبت های مختلف تهیه وکارگردانی می نماید. سلامتی وپیروزی برای وی خواهانیم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حنیفه واحد مختار فـــرزند عبدالله واحد در سال ۱۳۴۷ در شهر کابل در یک خانـــواده روشنفکر چشم به جهان گشود.

وی پس از صنف دوازدهم لیسهء مریم درسال ۱۳۶۲ با رادیو تلویزیون ملی به همکاری خویش آغاز نمـــود سپس درسال ۱۳۸۱ به حیث گـــــوینده و در رادیـــــو تلویزیون ملی مقرر شد و از آنزمان به این طرف با علاقمندی و با قبول شرایط دشوار که در کشور حاکم بود به وظیفهء خود ادامه می دهد خانم واحد مختار که ازمدت ۲۶ سال به این ســــو با رادیو تلویزیون ملی همکاری دارد تحسین نامه های بی شماری را در جــــریان اجرای بـــــرنامه های رادیـــــو یی و تلویزیونی دریافت نموده است و اکنـــون هم بهترین برنامه هایی چون پرطاووس ، رادیو، زمزمه هایی شب هنگام رادیو و تلویزیون ، مشعلداران هنر در تلویزیون ، شهر ما خانهء ما ترانه ها و سخنها ، یکدسته گل ، یک شاخه و چند گل ، سرویس های خبـــری رادیو و تلویزیون ، قرائت بـــرنامه های دست اول در رادیو و تلویزیون ، تبصره های سیاسی و بـــرنامه های ادبی ، ذوقی، تفـــریحی و سیـــاسی را دربیرون از محـــوطه رادیو تلویزیون به شکل رسمی به پیش می برد. حنیفه واحد مختار ازدواج کرده ودوپسر و دوختر دارد .



نصــــرالله یعقوبی در سال ۱۳۵۱ خورشیدی شامل «مکتب سیاه گرد» ولسوالی غوربند ولایت پــــروان شد ودر سال ۱۳۶۰ شامل انستیتوت معلوماتی وتکنالـوژی مخابرات و سپس از سپـــری نمودن پنج سال دروس مسلکی در رشتهء رادیو تلویزیون با درجهء نخست شامل خدمت عسکری شـــد. درسال ۱۳۶۸ در عرصه رادیو تلویزیون ملی مقرر و تا اکنون که مدت ۲۰ سال می شود در بخش تخنیک فرستنده ها از جمله فـــــرستندهء تلویزیون، ورکشاپ مرکز ترمیماتی فرستنده های موج کوتاه و موج متوسط یکه توت ، وظایف یش را موفقانه پیشبرده واز مدت ۸سال بدین ســو به حیث مدیر عمـــومی فرستنده های یکه توت اجرای وظیفه می نماید . خدمات مثمـــری را در نشر و پخش نشرات رادیو تلویزیون انجام داده است .

برای آقای یعقوبی سرفرازی کامل تٌمنا داریم.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دسینما دهنر مُخینه

(مانند عقاب) یو په زړه پوري مستند فلم دی چې معموله اصطلاح ددي راز فلم لپاره (هنري مستند فلم) دی چې هنري اصطلاح دهغو صحنو څخه دی چې ډایرکټ سوي دي. دا ديوي وړي انجلی کيسه ده چې دی کلي دهلکانو دخبرو په اوريدو سره دا هم تصميم نيسي چي دکور څخه دخپلي کورنی له اجازي نه پرته دکابل ښارته خي او هلته دهغه کال داستقلال د جشن په زړه پوري مراسمو او مناظرو په ننداره بوختيږي چې په مستند ډول اخستل سويدي او ور سره (منتاژ ) يو ځای سوي دي. دفلم نوم د نجلی دخواست څخه اخستل سويدی، چې غواړي دباښي غوندي والوزي او تولو شيان دپورته څخه ووينی،ددي فلم دچاپ چاري هم په هند کي تر سره کيږي ،د(عشق و دوستي ) او ( مانند عقاب ) فلمونه دهيواد دهنري فلمونو دتوليد په لاره کي دځوانو سينماګرانو د پټو استعدادونو د راوينيدو او پرمختيا



لپاره ښه لاربنود اوبيلګي وي، دوخت او شرايطو په نظرکي نيولو دنيمګړتيا سره سره دپام او ستاينې وړ دي.

ترډي وروسته، دخلکو د غوښتنو دوخت او زمان دغوښتنې د ځوانو او روښانفکرو فرهنګيانو دهڅو او تلاش له مخې دلومړي ځل لپاره په ۱۳٤٤کال دمطبوعاتو درياست په تشکيل کې دفلم اخستلو او عکاسي عمومي مديريت جوړشو چې بیاوروسته يې دافغان فلم موسسي په چوکات کي په کار او فعاليت پيل کړ. دغه موسسه لومړي دخبري فلمونو په جوړيدو، دډدولتي غوندو د پرانستلو او بهرته د شاه سفرونو ته انعکاس ورکوي چې بيا وروسته دهنري فلمونو توليد ته لاس اچوي. ددي موسسي دلابراتوارپه برخه کي امريکايي، ترکي، فرانسوي اوهندي معلمينو د دريو کلو په موده کي عملي ا و نظري زده کړي ور کړي.

لو مړنی توليدي مستند خبري فلم چې د افغان فلم په لابراتوارکي جوړ سو د۱۳٤٦هـ.ل کال په ژمي کې د افغان فلم دافتتاح نه مخکي جوړ سو چې ديوګوسلاويا د جمهور رئيس مارشال تيتو دسفر څخه کابل ته وو چې په ٢٤ساعتو کي يې ټول مر احل تر سره سول، ددي لنډ فلم مسلکي کارکونکي (فلم اخستو نکي سونه رام تلوار او محمداسحق ستارزاده دلابراتوار په برخه کي سليم نورزي، سلطان استالفي، سيدمصطفي، سيدکريم روفي،ګل احمدطيب، منتاژور محمد انور صابري ا و سوند مين عبدالرحمن صفتي و.

په همدي ترتيب د افغان فلم ځانګي کرار کرار دهنري فلمونو په توليد کار پيل کړ چې دافغان فلم تر څنګ يو شمير اشخاصو دفلمونو د توليد امتياز دوخت اطلاعاتو او فرهنګ وزارت څخه په شخصي توګه ترلاسه کړ. په همدي ترتيب دفلم جوړوني هنر او سينما زموږ په هيواد کي خپله لاره ورو ورو او په مقدماتي بڼه تر سره کړه او ټولني ته يي د ځوانو سينماګرانو او تازه کارو استعدادونه وريه برخه کړل، چي دهغوي هنري کارونه زموږ دهيواد دفلم جوړوني او سينماتوګرافي په برخه کي ښه لاسته راوړني دي.

د(مانند عقاب) له فلم نه وروسته بيا دپنځو کلونوپه بهير کي هيڅ هنری افغانی فلم نه جوړيږی خوپه دغوکلونو کي ديوی ملي سينمايي هستي دجوړيدوله پاره په دولتي اوغير دولتي کچه د پام وړاقدامات پيليږي. چي له هغه جملي څخه دخينوسينمايي کورسونو دايريدل، و خارج ته د سينما په برخه کي تحصيلي بور سونو ته دمحصلينو استول، اوله خارجيانو سره دځينو مستندو اوهنری فلمونوکي دافغانی سينما ګرانو برخه اخيستنه ددي اقداماتو ښي بيلګي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خانم سیما ترانه و محمد عمر رفایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# البوم هنری



صدیق شباب



اسد سکندر



رحیم جهانی و خانم سلما



لطیف ننگرهاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرید رستگار

# لزماني ليوني

ليـــوني دزماني يم كه منصوريم دخپـــل وخت زه
چي دحق توره مي كښلي كه يونوريم دخپـــل وخت زه
دگـــريوان كچكـــول مي ډك كړدحسرت په ملغلــــرو
چي له اوښكو خيرات غواړم خومجبوريم دخپل وخت زه
دزخمي پرهـــــرپه شونډوښكلوم دغم خيالــــونــــه
دخپل تن په ســـــروتناكوپروت رنځوريم دخپل وخت زه
يوملنگ يم ببــــــرسري ، لــــه دنيا بيزاره ســـوي
ستا دنورپه ميومست يم چي مغروريم دخپـــل وخت زه
شيخه خه الله دي مل شه زه يوغــــــريم نه نــــرړيم
دپيغام په ځيـــــر ملنگ يم خوباتـــوريم دخپل وخت زه

عبدالاحدپيغام

## روح آزاد

غــريبان را به احسان یاد كـــــردن
مريضـــــان را به درمان شاد كـــردن
يتيمـــان را ســـرشك از رو گـــرفتن
بنــای مسكنت بـــــر باد كـــــردن
اســــيران را ز پــــا زولانــــه كندن
جهــــان ايمن از بيـــداد كــــردن
بـــرای راحــــت و آسايش خـــلق
تمام عمـــر عـــــدل و داد كـــردن
به بيكس غـــم شريكی ها نمـــودن
به مفـلس سيم و زر امداد كــــردن
به تـــــدريس و به تعليم و تعـــلم
ده ها شاگـــرد را استاد كـــــردن
خـزان جـــور را از بيخ كنــــــدن
بهار معـــزلت بنيـــاد كـــــــردن
به حـلق تشنه گان آبی فشانـــــدن
زمين خـــــاره را آباد كـــــردن
نباشـد آنقـدر در خـــورد تحسين
كه روحی را ز غم آزاد كـــــــردن

احمد ضيا قاری زاده

ای دلم از صحبت اهل زمـــــان معذور بــــاش
دوستی بــا اهل دل بگزين و بس مســـرور باش
بند ظلمت را شكن از دست و پای خـــويشتن
با ضمير روشن ای دل، زير چتر نـــــور باش
تا به كی دست هـــوا و حرص ويرانت كنــد
تن قانع را مـــــداقع ساز و هم معمور بـــاش
بر زبـــان خلق بـــودن صد بلا دارد به پی
عافيت خـــواهی به خلوت از همه مستور باش
از شراب آب انـــگوری، ترا پرهيــــز بــاد
از می وحدت گهی مست و گهی مخمور بـــاش
نفس چـــون زنجير می بندد دو دستت زينهار
در پی قطع هوای نفس چون ســـــاطور باش
در حصول علم كوشـــا باش تـــا داری رمق
در ديار اهل عـــــرفان ای "عفيف" منظور بـــاش

لطيف عفيف



هر ديده كه عبرتی نگيرد كور است
هـر شهد كـه لذتی نبخشد شور است
رختيكه تغيـير نپـذيـرد كفن است
آن خانـه كـه تبديل نيـابد گور است

حضرت بيدل

سيد عبدالوهاب

نه شاعر نه زه اديب يم
دی بازار كی زه غريب يم
كه ځه هم په دغه باغ كي
د ښايستو گلو طالب يم
شاعری دعوه ره نكړم
دی مقام ځه بی نصيب يم
گاهی زه كه اشعار وايم
خوړمن زړه سره قريب يم
شاعری ښايسته دنيا كی
زه بی نظمه بی ترتيب يم
گوډ و ړوند په دغه لار زه
ډير محتاج د يو طبيب يم



(c) ketabton.com: The Digital Library





# غزل

چې له تاسره په ســــر کاندي سودا
بل به نه وي هسې ما غـــوندي شيدا
نه به ما غوندې شيدا وي په جهـان کې
نه به تا غـــوندي دلبـــر شي بل پيدا
ما په صبر تا په جور او جفا وكـــره
ولې نشي د ژړا پــــه خاى خنـــدا
بې دا ستا له مخه كون دى كه مكان دى
ښه توښه مې نه په دا شي نه پـــه دا
جدايي به دې هيڅ رنګ قبوله نكـــرم
څو مې نه وي روح كالبوت سره جدا
لكه وروستو مقديان وراندي امام وي
ما پــــه تا پسې ده كــــرى اقتدا
زه يو نه يم درست جهان په تا مين دى
كه بادشاه دى ددي دهــــر كه ګدا
كشكې خط دې مانيه وما راكــــړي
چې له ماسره وعده كړي د فــــردا
زه پخپله په تا نه يم مين شـــوى
ستا له رويه په ما شوى ده نـدا
زه په تا باندي مين يم له ازلــه
نه چې كړي مې نن ورځ ده ابتدا
چې دا ستا د عاشقى په تيغ شهيد شم
د " رحمان " غاړه به هـلـه شي ادا
د "رحمان " و زيرى رنګ وته نظر كړه
چې مدام په تاپسې كانـــــدي ژړا



**حضرت بيدل**

آهنــګ جـــلاليكه بمش زيـــر شـــود
چـون وانګـــــرى جمـــال تاثير شـــود
آن بادهٔ شعلـه ګـــون كه دارد خورشيــد
در ساغر مـاه چـــون رسد شير شـــود

## خپـــل وطن تــــه وفـــادار شــــه

خپــــل وطن ته وفا دار شه خدمت ګــــدار شـــه
داوطن خــــوپه يوازى نه جـــوړيــــــږى
زيــــار زحمت زمو نــــږ دوطن ښــــه آبادى ده
مونـــــږ به تر څــــــو پورى دبل لاسته هيله منديو
كه دى زيـــــار زحمت پـــــه خپل لاس وايستلـــو
داتير شـــوى وختـــونه درپـــــه يادكــــړه
لذت ديـــــر دى په وطــــن كې كه ته پـــوه شي
خپــــل وطن دى كـــور دى هم كهـــول دى
په هيــــواد كې په دښه ژونـــد خاونـــدشي

دغـــــريبو بينـــــوا څخه خبـــر دارشــــــه
تــــه دخلكو هيــــواد والو سره همكار شــــه
پـــه زياورنــــــوزحمتو نـــو لاس پكارشــــه
تـــه په خپــــله دوطــــن ښكلى معمارشــــه
په راحت كې به ښه ژوندكـــــرى خبـــر دارشــــه
عبــــرت واخله خپل هيــــواد ته وفادار شــــه
ده پــــره دى وطن دښـــــو نه لاس ور دارشــــه
دستاژ وند او مــــــرګ پدى كې ، ښـــه ويښيارشــــه
دظاهــــروبناواوره ښـــه بيـــــدارشــــه

عبدالظاهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



انکـــار و جـــدل به خـــود فـــروشان گفتنـــد
تصـــدیق و سلامت به خمـــوشـــان گفتنـــــد
آن معنـــــی راحت کـــه جهــــان طالب اوست
حــــــرف است که بـــا پنبـــه بگـــوشان گفتند

حضرت بیدل




## هـجران

سالها.و ماه ها و هفته ها
ترا ندیده ام
اکنون
می دانم
درخت تمام فصل خزان
چه هجران کشید
تا آمـــدن بهار

ترشکوا فراه وال

## راز

ورځ کې پنځه و خته به
اول مې خدای
دویم جانان
او دریم تا یادوم
لمړه پرده مې وکړه ، رازمې
خپل کړه
یواځې ته یو هیږې
چې زما په ځنوکې یو دوه
تاره
ویښته سپین شوي

اجمل تور مان

(c) ketabton.com: The Digital Library





عبدالاحد "همراز"



محمد امین یادگاری مدیر عمومی ستدیوهای تلویزیون

# ستدیو های تلویزیون ملی

دستگاه تلویزیـــون ملی افغانستان که در زمانش از مدرن ترین دستـــگاه های پیشـــتازدر منطقه محســـوب می شد ، براساس عقد قرارداد میان دولتهای افغانستـــان وجاپان درسال (۱۳۵۵) شکل گرفت. بعداز گذشت زمان معینی وپس ازایجاد، اعمار ،اکمال ونصب وسایل و تجهیزات تخنیکی در حمل سال ( ۱۳۵۷) به نشرات آزمایشی آغاز نمود.

ترانسمیتر تلـــویزیون افغانستان در قلهء کوه آسمایی درارتفاع (۳۰۰) متر از سطح شهر کابل نصب شده و ارتفاع پایهء آنتن آن (۳۰) متر از چهار جهت روی فـــریکونسی (MHZ۲۵/۱۷۵ بـــــــه طاقت kw۲)مجهز با سیستم بـرق و تهویه ، ساحهء ۶۰ کیلو متـری کابل را تحت پوشش نشراتی قرار داده بود.

ادارهء مجله آواز به سلسله معـــــرفی و شناســـایی بخش های شعبات مختلف رادیو تلـــــویزیون این بارستدیو های تلویزیون ملی را به معرفی گرفته و توجه شمارا به خـــوانش مصـــاحبه محمدامین یادگاری مدیر عمومی ستدیو های ثبت و کاپی تلویزیون ملی که مدت ۲۹ سال را دربخش های مختلف ا ستدیو های تلویزیون ملی ایفای وظیفه می نماید، جلب می دارد.

سوال- نخست لطف نموده در مورد باز سازی مجدد ستدیو های تلویزیون ملی معلومات ارائه فرمایید ؟

جواب : با روی کارآمدن حکومت موقت ، تلویزیون ملی دو باره آغاز به فعالیت نمود. درسال ۱۳۸۲ خورشیدی مطابق با توافقات (بن) توافقنامهء باز سازی تلویزیون ملی میان دولت افغانستان و جاپان به امضأ رسید و دردو مرحله تلویزیون ملی باز سازی گردید.

۱- منتاژ: ستدیو ها از سیستم انالوگ به سیستم جدید ( دیجیتل ) که کارآن در تاریخ ۸ سرطان ۱۳۸۳ آغازشد .

۲ : نصب دستگاه ترانسمیتـر و سپس بخش ساختمانی ستد یـــوها که به این ترتیب کار تلویزیـــون ملی از سیستم کهنه به یک سیستم جدیـد و معیاری تبدیل گردید .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال- : لطفا" درمورد نحوهء کارو تعداد ستدیو ها معلومات دهید؟

جواب: مواد و مطالب جمع آوری شدهء برنامه های تلویزیون توسط انجینیران متجـــرب در ۹ ستدیو به منظور ثبت و کاپی و نشـــر زنده یا مستقیم آماده می شود که به صــــورت مختصر میتوان درمورد نحوهء کار ستدیوگفت که :

۱ - ستدیو اخبارکه از ابتـــداء به منظور پخش سرویس های خبــــری ایجاد شده بــــود که فعلا" نظـــر به ضــــرورت تعداد زیاد برنامه ها مطابق ، بـــرنامهء تخنیکی در این ستدیو ها ثبت میگردد.

۲- ستدیوی کنتـرول که ازاین ستدیونظر به ضرورت نشرات صورت میگیرد.

۳- ستــدیوی پـــــرو دکشن یاستدیو های مرکــــــزی : از این ستدیوبرعـــــلاوه ازنشرسرویس های خبـــــری ازتعدادی برنامهء های د یگـــــر به طـــــور زنده یامستقیم استفاده می شود .

٤- ستدیو هایAberolوAberol دراین ستدیو ها بــــــرنامه های مختلف ثبت ، کاپی و ایدیت میگردد.

٥- ستدیوی انانس : این یک ستــــــدیوی کــــــوچک پرودکشن است که درآنجا دوبلهء فلم های هنــــــری ، علمی ،مستند ،جهان حیوانات ،سریال ها و گـــــــزارش های روزمره اطلاعات و دیگـــــر برنامه های تلویزیون ثبت می شود .

٦- ستدیوی HD: این ستدیو با وســـایل مدرن و پیشرفته آماده گــــــــردیده که متأسفانه کمتــــــر ازآن استفاده به عمل میاید ، ولی با آن هم در قسمت ایدیت برنامه ها از آن استفاده می شـــــود.

۷- ستدیــــــو های سیدمقدس نگاه : دراین استدیو ها اکثــــــــرا" برنامه هایی ازقبیل مباحثه ، کلکین ، شب مهتاب ، درجستجوی حقایق ، آیینهء شهر ،·فرهنگ مـــــــردم و شماری از بــــــرنامه های دیگرثبت میگردد .

۸- ستدیوی اخبــــــار بین المللی : که درآن ایدیت و منتاژ اخبـــــار بین المللی صورت می گیرد.

۹- ستدیوی ترانسفر(Tran star): ستدیو کاری است که با وسایل و تجهیــــــزات تخنیکی آماده شده است . دراین ستدیو CD,DvD,VHS و کمــــــــره های مختـــــــلف کـــــــــــــــه با دستگاه تلویزیــــــون مطابقت نمی کند، به کست های دیجیتل بیتاکم انتقال و یا ترانسفرشده و آمادهء نشرمی شود .

سوال- در چند سال اخیرچه تحولات و تغیراتی ازنقطه نظرتخنیک در ستدیو تلویزیون ملی رو نما گردیده است ؟

جواب : تلویزیون ملی درسالهای اخیر رشدو توسعهء قابل ملاحظه یی نموده و این پروسه در حال گسترش میباشد.

بی مورد نخواهد بود به چند موضوع ذیل اشاره شود. تغییر سیستم انالوگ بــــــه سیستم دیجیتل. تغییرسیستم دیجیتل HD که سیستم بسیار پیشــــــرفته در جهان معاصـــــــــر می باشد. نصب وسایل و تجهیـــــزات تخنیکی مدرن و پیشرفته .

آغازنشرات ٢٤ ساعته و نشرات جهانی.

ایجاد ستدیوهای شبکهء کمپیوتربرای رویت برنامه ها.

ساختارستدیو های شبکهء دوم نشــــــرات ( تلویزیون کابل ) که درآیندهء نه چندان دور ایجاد خواهد شد.

سوال- کدام روش در نظر گرفته شود تا برنامهء تلویزیـــــــونی از نگاه نوعیت روشنتر و زیباتر جلب توجه کند؟

جواب - اولین جـــــز متصدی ستدیو، این است که تحصیل در رشتهء تخنیکی داشته دارای تجربهء کافی از جـــــریان ثبت برنامه باشد . چهرهء مجری برنامه را طبیعی و زیبا تصـویر برداری نماید کار بردبه جای نور در تلـــــــویزیون ، مهمترین جز تصـــویر است که توسط آن کمره میتواند چهرهء نه چندان زیبا را، زیبا جلوه دهد.

سوال- به منظور بهتر شدن کاردرستدیو ها چه پیشنهاد دارید؟

جواب - برگزار نمودن کـــــورس های آموزشی کار بــرد و استفاده از وسایل تخنیکی دیجیتل همچنان بلند بـــــــردن معاش کارمندان زیرا نظـــــــر به تنخواه کمی که انجینیران تلویزیون ملی دارند بیشترکارمندان متجـــرب به تلویزیون های خصوصی جذب شدند وما اکنون به کمبود کارمندان و انجینیــــــــران تخنیکی متجرب مواجه هستیم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سناریو به څنګه لیکو؟



نوی لیکوال باید د سناریو تز لیکنې وړاندې کومو اړخونو ته پام وکړي .
لومړني فلمونه بې غږه او لنډ وو، سناریو یې نه وه، ډایرکټر به په ذهن کې یوه نقشه برابره کړه، د کاغذ په مخ به یې په اختصار سره ولیکله ، بیا به یې د فلم جوړولو ته متې راونغښتلې.
خو وروسته چې غږن فلمونه راووتل او فلمونه اوږده شول، د سناریو لیکنه د ډایرکټر لـه کار څخه بېلـه او په ضرورت بدلـه شوه.
سناریو ته د فلم کیسه ویلی شو، داسې کیسه چې د سینما د تصویرونو په ذریعه ویل کېږي.
زموږ په هېواد کې د کیسې لیکل نوی کار نه دی، خو سناریو لیکنه نوی هنر دی. دلته تر هر چا د مخه ممکن هغه کسان سناریو لیکنې ته اقدام وکړي چې د کیسو او ډرامو په لیکلو کې تجربه لري. دوی که لـه کیسې او ډرامې سره د سناریو توپیرونو ته پام ونکړي، کار به یې نیمګړی وي.
کیسه په لیکلو سره بشپړېږي او د فلم جوړولو کار د سناریو په بشپړولو سره پیلېږي.
سناریو د یو هېواد پنځه کلن پلان ته ورته بللی شو. په پلان کې ګڼ اټکلونه شوي وي، خو د تطبیق په وخت کې بېلابېل عوامل په اټکلونو اثر کوي. که ډېر بارانونه واوري تر پیش بیني شوې اندازې به ډېر غنم ولرو او که بهرنیان مرسته ونکړي د سړکونو د پخولو په برخه کې به خپلو هدفونو ته ونه رسېږو.
د سناریو تقدیر هم د مختلفو عواملو په لاس کې دی. د هغې په فلم کولو کې لـه ډایرکټره رانیولې تر یوې فرعي لوبغاړې پورې ټول برخه لري. د دوی ټولو ذوقونه استعدادونه او نظرات ممکن د سناریو په بدلولو اثر پرېباسي. په دې سر بېره فلم په ډېرو پیسو جوړېږي. د لګښت زیاتوالی کلـه نا کلـه ددې سبب ګرځي چې د سناریو لوری بدل شي.
سناریو هم هغه خبرې را اخلي چې په فلم کې باید وشي او هم هغه تصویرونه معرفي کوي چې په فلم کې یې باید ووینو. د سناریو د تصویرونو په برخه کې دفلم جوړولو په وخت د تغییراتو امکان ډېر وي.
یوه لیکنه شاید د کاغذ په مخ قانع کوونکې وي او ډایرکټر ته هم ښه معلومه شي خو کلـه چې فلم ځینې جوړېږي بیا ستونزې پکې پیدا شي.
لـه پاسنیو توضیحاتو منظور دا دی چې سناریو لیکونکي ته لویه حوصلـه په کار ده، دده کار د شعر او داستان برخلاف، یوازې دده نه دی، په بشپړ ولو کې یې نور هم شریک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تیاتر کې د لیدونکو او لوبغاړو تر منځ مشخصه فاصله موجوده وي. ددې فاصلې غوښتنه دا ده چې لوبغاړي په لوړ آواز او فصیح وعربړي چې ننداړچیان یې په خبرو پوه شي. تیاتر ځیل خاص دودونه لري او ننداره چې یې له لوبغاړو دا توقع نه لري چې له رښتیانو مکالمو سره سمې خبرې خنې واوري.

په کیسه کې کرکټرونه نه وینو، هر څه په خیال کې انځور وو. دغه شې امکان راکوي چې د داستان مکالمه په اسانۍ سره له واقعي مکالمې بېله کړو او تر وسه وسه یې د ښکلا او اختصار غوندې هدفونو لپاره استخدام کاندو. په کیسه کې چې دوه کسه له یو بل سره مخامخ شي او خبرې شروع کړي، نو اکثره وخت یو بل ته سلام نه اچوي او نه سره متعارف روغبړ کوي خو په سینما کې چې مکالمه واقعیت ته نژدې ده، دوه کسه یو بل ته سلام اچوي، روغبړ سره کوي او بیا اصلي خبرو ته راځي.

په سینما کې کرکټر په سترګو وینو. دلته زموږ او کرکټرونو ترمنځ کومه مشخصه فاصله نه وي، کرکټر ممکن دومره نژدې ووینو لکه په کوټه کې چې راسره ناست وي.

د کیسې او سناریو ترمنځ یو بل مهم توپیر دا دی چې کیسه لیکوال د توصیف له لارې د کرکټر په هکله کې ډېر څه راته وایي او د هغه د زړه له حالونو موخبرولی شي خو د سناریو لیکونکي لاس دومره آزاد نه دی. د سناریو لیکونکی د ډرامې د لیکوال غوندې د خبرو اترو او عمل په ذریعه کرکټر راپېژني. دغه راز د خاصې صحنې یا د مختلفو پېښو د یو ځای کولو له لارې د کرکټر په هکله کې زموږ معلومات زیاتوي.

هغه پېښې چې ټکر په کې ډېر دی خو په مکاني لحاظ حرکت په کې لږ وي او تر ډېره حده په یو ځای کې رامنځ کېږي. د ډرامې لپاره مناسبې دي هغه پېښې چې تصویري اړخ یې پیاوړی دی، د فلم لیکولو لپاره ښه دي.

سناریو د ډرامې په نسبت کیسې ته نژدې ده. کیسه د خبرو اترو او توصیف په مټ په مخ ځي او سناریو د خبرو اترو او تصویرونو مجموعه ده.

لیکوال چې غواړي نکل یا کیسه په سناریو بدله کړي، د داستاني او ډراماتیك زمان توپیر یې باید پام کې وي. د آدم خان د نکل داستاني زمان له هاغه وخته پیلیږي چې دده پلار حسن خان، زوی نلري او یو ملنګ ورته دعا کوي چې خدای زوی ورکړی خو ددغه نکل ډراماتیك زمان ډېر کلونه وروسته هغه وخت پیلیږي چې آدم خان په درخانې باندې زړه بایلي.

د یوه داستان، داستاني زمانه ممکن پنځوس کاله وي خو ډراماتیکه زمانه یې پنځه میاشتې وي. د اصلي واقعې د پېښېدو وخت ته ډراماتیك زمان وايي.

